د ځوانانو لپاره

# د قرآن پوهنې زده کړې


لیکوال:

**اکبر حمیدي هشترودي**

ژباړن:

**ډاکټر ذبیح الله اقبال**

د ځوانانو لپاره

# د قرآن پوهنې زده کړې


لیکوال:

**اکبر حمیدي هشترودي**

ژباړن:

**ډاکټر ذبیح الله اقبال**

بسم الله الرحمن الرحيم

مخځوړ:
د کتاب نوم: د ځوانانو لپاره د قرآن پوهنې زدکړې
موضوع: قرآنپوهنه
لیکوال: اکبر حمیدي هشترودي
ژباړه: ډاکټر ذبیح الله اقبال
خپروونکی: اندیال؛ دیني، علمي، فرهنګي او خپرندویه ټولنه
www.andyal.com
د چاپ کال او وار: لومړی-۱۳۹۰ل
د چاپ شمېر: ۱۰۰۰ټوکه
د چاپ کال او وار: دویم -

# لړلیک


قرآن کریم د قرآن کریم له نظره ........................................ ۱۰
قرآن شریف، قرآن حکیم رامعرفي کړی دی ................................ ۱۰
په احادیثو کې د قرآن حکیم د زده کړې ارزښت ........................ ۱۵
د یوه مهم ټکي یادونه ........................................................ ۱۵
د یوې انحرافي شبهې توضیح ................................................ ۱۶
له قرآن حکیم نه د اخستنې څینې ساده او لنډې لارې ................ ۱۸
د قرآن حکیم له عربې سره شنایي: ........................................ ۱۸
د صرف و نحوه علم څه دی؟ ................................................ ۱۹
د توریو په تلفظ کې نښې او علامې څه ونډه لري؟ .................. ۱۹
په قرآن حکیم پوهېدنه کې د لغت پېژندنې اهمیت ...................... ۲۰
د قرآن حکیم د نزول پر تاریخ پوهېدنه .................................. ۲۲
قرآن کریم د هر پېر کتاب دی ............................................ ۲٤
له غرضي او سلیقه ای اخستنو ډډه کول .................................. ۲۵
د قرآن حکیم پر خوالو پوهېدنه ............................................ ۲۵
د قرآن حکیم له نامو سره آشنایي .......................................... ۲۷
د قرآن حکیم د اوډونې او راټولولو پړاوونه .............................. ۳۲
* سوکه سوکه نزول: .......................................................... ۳۲
* یوځلي نزول: ................................................................ ۳۲
قرآن حکیم څنګه راټول شو؟ ................................................ ۳۳
چا ته یې د وحې کاتبان ویل؟ ................................................ ۳٤
قرآن کریم پر څه لیکل کېده؟ ................................................ ۳٦
کله پر کاغذ د قرآن حکیم لیکل دود شول؟ ................................ ۳٦

د قرائت او تجوید علم ........................................ ۳۷
تجوید هرمرو زده کړئ ........................................ ۳۸
اوومه زدکړه: ........................................ ۳۹
وحې څه وخت پیل شوه؟ ........................................ ۳۹
آیا وحې پر حضرت محمد صلی الله علیه وآله وسلم نه پرېکونې وه؟ ... ۴۱
نزول، تنزیل او نجوم څه ته وایي؟ ........................................ ۴۲
د قرآن حکیم شأن نزول ........................................ ۴۳
مدني سورتونه او آیتونه ........................................ ۴۷
د مدني آیتونو ځانګرنې ........................................ ۴۷
د مدني آیتونوپه باب ځو نورې خبرې ........................................ ۴۷
د مدني آیتونو بېلګې ........................................ ۴۸
مکي سورتونه ........................................ ۵۰
د مکي سورتونو ځانګړنې ........................................ ۵۰
د مکي سورتونو نورې ځانګړنې ........................................ ۵۱
د مکي آیتونو څو بېلګې ........................................ ۵۲
د قرآن حکیم د آیتونو ظاهر او باطن ........................................ ۵۴
آیا د قرآن حکیم ظاهر او باطن ټکر لري؟ ........................................ ۵۴
د قرآن حکیم محکم او متشابه آیتونه ........................................ ۵۷
محکم آیتونه ........................................ ۵۷
محکمات او متشابهات ........................................ ۶۱
دویمه برخه: متشابه آیتونه: ........................................ ۶۱
متشابهات څه ګټه لري؟ ........................................ ۶۵
په قرآن حکیم کې نامفهوم آیتونه نشته ........................................ ۶۶
تأویل ........................................ ۶۹

له تأويل ناوړګتېنه ........................................ ٧٠
خوارج څوک وو؟ ........................................ ٧٠
د تفسير او تأويل توپير ........................................ ٧٢
قرآن حکيم مو تفکر او تعقل ته رابولي ........................................ ٧٣
راسخون فی العلم څوک دي؟ ........................................ ٧٤
د قرآن حکيم سورتونه ........................................ ٧٥
د اوږدوالي او لنډوالي له اړخ د قرآن حکيم سورتونه: ........................................ ٧٥
د قرآن حکيم د سورتونو په باب توضيح ........................................ ٧٦
ناسخ و منسوخ ........................................ ٧٨
د ناسخ و منسوخ مانا: ........................................ ٧٨
د نسخ ګټې ........................................ ٨٣
د قرآن حکيم موضوعات ........................................ ٨٥
قرآني کيسې ........................................ ٨٩
د قرآني کيسو په باب د ډاکټر فليپ څرګندونه ........................................ ٩١
د قرآني کيسو شمېر ........................................ ٩٢
د قرآني کيسو څو بېلګې ........................................ ٩٣
د حضرت آدم عليه السلام کيسه: ........................................ ٩٣
د حضرت ابراهيم عليه کيسه: ........................................ ٩٣
د ابليس کيسه: ........................................ ٩٤
د ابولهب کيسه: ........................................ ٩٥
د حضرت ادريس کيسه: ........................................ ٩٦
د اصحاب السبت کيسه: ........................................ ٩٦
د جالوت کيسه: ........................................ ٩٧
د سامري کيسه: ........................................ ٩٧

د لات کیسه: ........................................................ ۹۸
د حضرت مریم کیسه: ................................................ ۹۸
په قرآن حکیم کې فقهي احکام ........................................ ۹۹
احکام څه ته وایي؟ ................................................ ۹۹
د احکامو له آیتونو سره آشنایي ...................................... ۱۰۱
۱ _ لمونځ کول او زکات ورکول: ...................................... ۱۰۱
۲ _ پر نېکیو امر او له بدیو منع: ...................................... ۱۰۱
۳ _ له محارمو سره واده، حرام دی: .................................... ۱۰۱
٤ _ د اودس کولو طریقه: .............................................. ۱۰۲
۵ _ د کفارو او مشرکینو پر جنازه، لمونځ مه کوئ: ...................... ۱۰۳
قرآن حکیم د احکامو پېژندو معیار دی ................................ ۱۰٤
په قرآن حکیم کې قیامت ............................................. ۱۰۵
په قرآن حکیم کې د معاد آیتونه ..................................... ۱۰۵
پېغمبرانو به تل د قیامت په باب خبرې کولې: ........................ ۱۰٦
د معاد آیتونه: ...................................................... ۱۰٦
په قرآن حکیم کې اندنه ............................................ ۱۱۰
قرآن حکیم د اندنې کتاب دی ........................................ ۱۱۰
ولې په قرآن حکیم کې تعقل نه کوئ؟! ................................ ۱۱۱
د قرآنپوهنې اړتیا او پر دستوراتو یې عمل کول ........................ ۱۱۱
توحید؛ د قرآن حکیم آریزه وینه ده .................................. ۱۱٦
د رسول اکرم لومړی شعار ........................................... ۱۱۸
قرآن حکیم او عبودیت ته رابلنه ..................................... ۱۲٤
د قرآن حکیم د تفسیر کړنلار ........................................ ۱۲٦
د تفسیر اوزار ...................................................... ۱۲۷

د تفسیر مفهوم ........................................................... ۱۲۸
څوک قرآن حکیم تفسیرولای شي ........................................... ۱۲۹
د تفسیر ډولونه ........................................................... ۱۳۰
غوره تفسیر ............................................................... ۱۳۱
په خپله رایه تفسیر ...................................................... ۱۳۱
تفسیرونه ................................................................ ۱۳۲
* د اهل سنتو مشهور تفسیرونه: ........................................ ۱۳۲
د اهل تشیع تفسیرونه .................................................. ۱۳۵

# قرآن کريم د قرآن له نظره

**قرآن شريف، قرآن حکيم رامعرفي کړی دی**

* ((ذَلِكَ الْكِتَابُ لاَ رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ[1]= دا هغه (ستر) کتاب دی، چې شك پکې نشته او پرهېزگارانو ته سمه لار ښيي.))

* ((الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَنزَلَ عَلَى عَبْدِهِ الْكِتَابَ وَلَمْ يَجْعَل لَّهُ عِوَجَا[2]= ځانگړې ستاینه د هغه الله ده، چې دا (اسماني) کتاب يې پر خپل (غوره) بنده نازل کړ او هېڅ ډول کږلېچ يې پکې پرېنښود؛))

* ((أَفَلاَ يَتَدَبَّرُونَ الْقرآن حکيم وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ اللّهِ لَوَجَدُواْ فِيهِ اخْتِلاَفًا كَثِيراً[3]= ايا دوی د قرآن حکيم د معناوو په باب نه ځير کيږي؟! که دا بې له «الله» د بل چا له لوري وای؛ نو هرومرو به يې پکې ډېر اختلافات موندلای.))

---

[1] (بقره/٢)

[2] (کهف/١)

[3] (نساء/٨٢)

* ((لَا يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِن بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِ تَنزِيلٌ مِّنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ[1]= چې باطل نه مخامخ پرې راتلای شي او نه له شا(ځکه دا) د حکيم ستايل شوي (الله تعالى) له لوري رالېږل شوى.))

*((وَيَوْمَ نَبْعَثُ فِي كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا عَلَيْهِم مِّنْ أَنفُسِهِمْ وَجِئْنَا بِكَ شَهِيدًا عَلَى هَـؤُلاء وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَى لِلْمُسْلِمِينَ[2]= او (درياد کړه) پر هغه ورځ، چې موږ په هر امت کې پخپله د هغوى له منځه پر دوى يو شاهد راپاڅو او تا پرې گواه کړو او موږ دا کتاب پر تا نازل کړى، چې د ټولو څيزونو څرگندوونکى او مسلمانانو ته لارښود او رحمت او زېرى دى.))

* ((وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِي الأَرْضِ وَلاَ طَائِرٍ يَطِيرُ بِجَنَاحَيْهِ إِلا أُمَمٌ أَمْثَالُكُم مَّا فَرَّطْنَا فِي الكِتَابِ مِن شَيْءٍ ثُمَّ إِلَى رَبِّهِمْ يُحْشَرُونَ[3]= او په ځمکه کې هر خځنده او په هوا کې په وزرونو الوتونکي ستاسې په څېر خيلونه دي. موږ په کتاب (لوح محفوظ) کې

---

[1] (فصلت/٤٢)

[2] (نحل/٨٩)

[3] (انعام/٣٨)

هېڅ شی نه دی پرېښی، بیا به (ټول) یوازې د خپل پالونکي لوري ته ورټول کړای شي.))

* ((شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِيَ أُنزِلَ فِيهِ الْقرآن حكيم هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِّنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ وَمَن كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ يُرِيدُ اللّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلاَ يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ وَلِتُكْمِلُواْ الْعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُواْ اللّهَ عَلَى مَا هَدَاكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ[1]= رمضان هغه میاشت ده، چې هغه قرآن حکیم پکې نازل شوی، چې خلکو ته لارښود او د سمې لارې نښې او د حق او باطل توپیرونکی دی؛ نو که له تاسې چا دا میاشت ولیده؛ نو و دې یې نیسي او که څوك ناجوړه یا مسافر وي؛ نو په نورو ورځو کې دې یې ونیسي. الله تعالی پر تاسې اساني غواړي، نه سختي (موخه داده) چې دا ورځې پوره کړئ او داچې الله تعالی درته سمه لار ښوولې (نو هغه) پر لویۍ وستایئ او ښایي شکر یې وکړئ.))

---

[1] (بقره/۱۸۵)

* ((وَلَقَدْ جِئْنَاهُم بِكِتَابٍ فَصَّلْنَاهُ عَلَى عِلْمٍ هُدًى وَرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ[1]= او په واقع کې موږ هغوی ته کتاب راوړی، چې (خوالې) یې مو د علم له مخې تشریح کړي، چې ایمان راوړونکیو ته لارښود او رحمت دی.))

* ((الَر كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِ رَبِّهِمْ إِلَى صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ[2]= الف، لام، را (دا) یو کتاب دی، چې موږ پر تا نازل کړی، چې خلك د هغوی د پالونکي په اجازه (د شر، ظلم او ناپوهۍ) له تیارو راوباسې او (د ایمان، عدل او پوهې) رڼا ته یې راولې، د ناماتي (او) ستایل شوي (الله تعالی) لارې ته.))

* ((وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقرآن حكيم لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ[3]= نو په یقین موږ قرآن حکیم د پند اخستو لپاره اسان کړی؛ نو ایا پند اخستونکی شته؟!))

---

[1] (اعراف/۵۲)

[2] (ابراهیم/۱)

[3] (قمر/۳)

*(( كِتَابٌ فُصِّلَتْ آيَاتُهُ قرآن حكيما عَرَبِيًّا لِّقَوْمٍ يَعْلَمُونَ[1]= يو کتاب دی، چې آيتونو يې هر مطلب پر خپل ځای، په عربي لوستوني (=واضح) پوهانو ته څرگند کړي دي))

* ((وَإِنَّهُ فِي أُمِّ الْكِتَابِ لَدَيْنَا لَعَلِيٌّ حَكِيمٌ[2]= او په رښتيا، اصل کتاب له موږ سره دی، چې عزتمن او له حکمته ډک دی.))

---

[1] (فصلت/٣)

[2] (الزخرف/٤)

## په احادیثو کې د قرآن حکیم د زده کړې ارزښت

*پیغمبر اکرم صلی الله علیه وآله وسلم : څوك چې قرآن حکیم خپل شعار او میزان کړي؛ څښتن تعالی به یې نیکمرغه کړي. څوك چې قرآن حکیم خپل لارښود کړي او ورپسې اقتدا وکړي؛ نو روستی تمځی به یې له نعمتونو ډك جنت وي.
*حضرت علي (ک): قرآن حکیم زده کړئ، چې تر ټولو غوره وینا ده. اندنه پکې وکړئ؛ ځکه قرآن حکیم د زړونو پسرلی دی.
حضرت امام سجاد: د قرآن حکیم آیتونه زېرمه ده او دا ازېرمه دې، چې پرانسته؛ نو پکار ده، ورځیر شئ، چې څه پکې دي؟
حضرت امام باقر: په رښتیا، په قرآن شریف کې څښتن تعالی هر څه چې د قیامت تر ورځې پکاریږي، راوړي دي.

**د یوه مهم ټکي یادونه**

پردې خو ټول پوهیږي، چې قرآن کریم د ژوند کتاب او انسانانو ته د شفا نسخه ده؛ نو هر مسلمان باید پر قرآن حکیم د پوهېدنې او له قرآن حکیمه د پوهې او اخستنې لپاره، له قرآن حکیم سره آشنایي پیدا کړي او ښکاره خبره ده، چې پر قرآن حکیم له

پوهېدنې پرته څوك پر اسلام پوهېدای نشي؛ نو پر ټولو پلټونکیو اړين ده، چې له دې اسماني كتاب سره آشنايي پيدا كړي.

## د يوې انحرافي شبهې توضيح

ځينې وايي: پر قرآن حكيم پوهېدل، د هر چا كار نه دی؛ ځكه قرآن حكيم ناسخ او منسوخ او ظاهر او باطن لري او داچې هر آيت بطن لري، ددې مثال د يوه ژور سمندر په څېر دی او كه څوك دې ستر سمندر ته ورننووت؛ نو ډوب به شي؛ نوځكه نه ښايي دې سمندر ته ورنږدې شو، چې پكې ډوب به شو.

دا خبره چې هر چا پر هر نيت كړې وي؛ موږ يې نه منو؛ ځكه كه غر لوړ وي؛ نو پر سر يې لار هم وي.

او دا خبره هم نه منو، چې له قرآن حكيمه د ګټنې لپاره، انسان بايد هرومرو مفسر او څېړونكی وي او هر انسان، چې هر څومره معلومات لري، كولای شي، له قرآن حكيمه ګټنه وكړي.

كه د چا لامبو نه وي زده؛ نو بايد د سمندر په رغي ځای كې لامبو وكړي او د چاچې لامبو زده وي؛ نو د سمندر په ژورو ځايونو كې هم لامبو كولای شي؛ نو زما خبره هم داده، چې زموږ ځوانان هم بايد په دې ستر سمندر (قرآن حكيم) كې د لامبو وهلو فنون زده كړي، چې له دې ستر سمندره ګرانبيه زېرمې او مرغلرې راوباسي.

**لومړی زدکړه:**

## له قرآن حکیم نه د اخستنې ځینې ساده او لنډې لارې

**د قرآن حکیم له عربې سره اشنایي:**

ټول پوهیږئ، قرآن شریف په عربي ژبه، چې د حضرت محمد "ص" د وخت د خلکو ژبه وه، نازل شوی. څښتن تعالی هم دې خبرې ته اشاره کړې ده:

(( کتاب فصلت آیاته قرآن حکیم عربیا= دا قرآن هغه کتاب دی، چې آیتونه یې په عربي دي))

نو پر قرآن حکیم د پوهېدنې لپاره، لومړی گام په عربي پوهېدل دي، چې هم د قرآن حکیم ژبه ده او هم د اسلام نړیواله ژبه ده او پر عربي د پوهېدنې لپاره لومړی گام د " صرف او نحو " د علم زده کړه ده.

## د صرف و نحوه علم

د صرف علم د کلمو د جوړښت او مشتقاتو په باب وېينه کوي؛ د بېلګې په توګه: د (جهد) ماضي فعل (مجاهد) اسم فاعل (اجهد) فعل امر ، (سجاهدون) فعل مضارع جمع (سجاهدون) فعل مضارع جمع مخاطب.

د نحو علم، د اعراب ايښوولو دی؛ د بېلګې په توګه: د نحو علم راښيي: کوم توري ته د ( و) پېښ غږ ورکړو، کوم توري ته د زېر او کوم توري ته د زبر غږ ورکړو يا داچې ولې ځينې توري په اخر کې ساکن وي؟

## د توريو په تلفظ کې نښې او علامې څه ونډه لري؟

د ديني علومو زدکړيالان، چې مدرسو ته ورننوځي؛ نو لومړی پرې صرف او نحو وايي؛ نو پر قرآن حکيم د پوهېدنې لپاره د "صرف او نحو " زده کړه اړينه ده.

## په قرآن حکیم پوهېدنه کې د لغت پېژندنې اهمیت

د لغت/ ویی پېژندنه او د مانا پر مفهوم سمه پوهېدنه، د انسان په معلوماتو په تېره، د قرآن شریف د آیتونو په پوهېدو کې خورا ونډه لري.

اصولاً له هغه وخته، چې انسان خبرې کول پیل کړي؛ نو لغت او کلمات هم رامنځ ته شول؛ ځکه بې د لغت او کلمې له کارولو څوك نشي کړای، نورو ته خپل مطلب او مفهوم ور و رسوي.

په لغت کې هم د نورو علومو په څېر خورا بدلونونه راغلي او د وخت په تېرېدو، ځینې لغات او کلمې د خلکو له خبرو غورځېدلي او ځینو لغاتو، په یوه وخت کې، یوه مانا درلوده، چې د وخت په تېرېدو یې خپله مانا له لاسه ورکړه؛ نوځکه پر لغت او کلمې پوهېدل به پر قرآن حکیم، آیتونو او اسلامي متونو پوهېدنه اسانه او اغېزمنه کړي.

## دویمه زدکړه:

# د قرآن حکیم د نزول پر تاریخ پوهېدنه

پر تاریخ پوهېدنه، پر پخوانیو پېښو د پوهېدنې غوره لار ده. ځینو مشرانو، تاریخ له موروپلار سره تشبیه کړی او انسان باید خپل موروپلار وپېژني. موروپلار د انسان بنسټ او جرړه ده او تاریخ هم د ټولو پېښو او بهیرونو بنسټ او جرړه ده او پر تاریخ له سمې پوهېدنې پرته، د مسایلو د سمې شننې او څېړنې امکان نشته دی.

دا تاریخ دی، چې موږ د پخوانیو پر برخلیك، پېښو او د هغوی د بري او ماتو له خوالو خبروي او ځوك چې غواړي، ځان پر قرآن حکیم پوه کړي؛ نو ځان باید د پېغمبر اکرم "ص" د بعثت، بلنې، هجرت او غزاګانو پر تاریخ پوه کړي؛ نو څومره به ښه وي، په قرآن حکیم کې پر راغلیو آیتونو د پوهېدو لپاره، ټولې هغه پېښې، چې پېغمبر اکرم" ص" ته له وړوکتوبه تر ځوانۍ ورپېښې شوي، تر کتنې لاندې ونیسو.

د قرآن حکیم یوه مهمه برخه هم د حضرت محمد صلی الله علیه وآله وسلم د بعثت وخت دی؛ یعنې هغه وخت، چې زموږ

پیغمبر اکرم "ص" په څلوېښت کلنۍ کې پیغمبر شو او تردې روسته دی، چې حضرت محمد "ص"، بېلابېلو پېښو ته ورغاړې وځي او په همدې پېښو کې هم الهي آیتونه، د وحې په بڼه راغلل.

د اسلام له دښمنانو سره د پیغمبر اکرم"ص" د جګړو پر علت ځان پوهول هم خورا اړین دي، چې دا غزوې او لاملونه يې په قرآن شریف کې راغلي دي.

د حضرت محمد "ص" د وخت د خلکو په وتیز او اندیز حالت هم ځان پوهول به د قرآن حکیم په پوهه کې خورا مرسته وکړي، د هغه وخت د خلکو پر دودونو پوهېدل هم پر قرآن حکیم د پوهېدو لپاره اړین دي او که خپله خبره رالنډه کړم؛ نو داسې به ووایم:

پر قرآن شریف د سمې پوهېدنې لپاره، د اسلام پر تاریخ ځان پوهول اړین دي، چې د قرآن حکیم د نزول تاریخ يې هم یوه برخه ده، چې د آیتونو د نزول په برخه کې او هم هغه بېلابېلې پېښې، چې هغه وخت راپېښې شوي، پرې پوه شو.

**دریيمه زدکړه:**

## قرآن کریم د هر پېر کتاب دی

که څه پخوا مو اشاره وکړه، چې قرآن شریف د رسول اکرم پرمهال پر عربو نازل شوی او باید هغه شرایط هم په پام کې ونیول شي، چې قرآن کریم پکې نازل شوی؛ خو دې مطلب ته هم پام پکار دی، چې قرآن حکیم یوازې د پیغمبر اکرم "ص" د وخت لپاره نه و او یوازې د هغه وخت د خلکو لپاره راغلی نه دی.

څښتن تعالی وايي:

((تنزيل للعالمين= دا قرآن ټولو نړیوالو ته دی))

او په بل ځای کې وايي: (( کافة للناس= دا قرآن مو د ټولو خلکو لپاره درلېږلی دی))

نو قرآن شریف د ټولو وختونو د ستونزو هوراونکی دی او د نړیوالو د ستونزو حل باید په قرآن حکیم کې ولټول شي.

## له غرضي او سليقه ای اخستنو ډډه کول

انسانان بېلابېل حالات او روحيات لري او هر څوك خپل ځانګړي روحي شرايط لري، چې بايد د قرآن حکيم د مفاهيمو په درك کې، له هر ډوله غرض او وګړيزو سليقو ډډه وشي.

هغوی چې غرضي وي، هڅه کوي، د خپلو ځاني غوښتنو له مخې، قرآن حکيم مانا او تفسير کړي او دا يو سور خط دی، چې انسان د خطر پر پانې دروي، چې د قرآن حکيم په اصطلاح داسې تفسير ته " تفسير به راى" ويل کېږي؛ يعنې هغه تفسير، چې په خپله خوښه او وګړيزو غوښتنو شوی وي او له حقيقته لرې وي.

" تفسير به راى " هغه خطرناکه کړنلار ده، چې په تاريخ کې او اوس هم ډېر دوه مخي ناوړه ګټنه ترې اخلي.

## د قرآن حکيم پر خوالو پوهېدنه

د قرآن حکيم د سورتونو په پيل کې ځينې توري، د خوالې په بڼه راغلي، چې آريز مفهوم يې پوهنوړ نه دی؛ ځکه پر مانا يې يوازې څښتن تعالی، رسول الله او "راسخون فی العلم" پوهېږي.

موږ هم ځينې خواليز توري راوړي دي:

**الم** (د آل عمران سورت په پيل کې)

**الر** (د یونس سورت لومړی آیت)
**کهعیص** (د مریم سورت لومړی آیت)
**حم** (د فصلت سورت لومړی آیت)
**المص** (د اعراف سورت لومړی آیت)
**المر** (د رعد سورت لومړی آیت)
**طه** (د طه سورت لومړی توری)
**الر** (د هود سورت لومړی آیت)

## څلورمه زدکړه:

# د قرآن حکیم له نامو سره آشنایي

ټول پوهېږئ، قرآن حکیم د هستۍ د پنځګر لخوا پر حضرت محمد صلی الله علیه وآله وسلم نازل شو او هغه به هم خلکو ته لوسته.

الهي آیتونه حضرت محمد صلی الله علیه وآله وسلم خلکو ته اورول او خلکو هم یادول، چې نورو خلکو ته یې ورسوي او داچې د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم پرمهال، قرآن حکیم د یوه کتاب په بڼه نه و او وحې هم چې په بېلابېلو مناسبتونو کې نازلېده؛ نوځکه یې نوم نه درلود، چې سوکه سوکه د وخت په تېرېدو، د پیغمبر اکرم صلی الله علیه وآله وسلم په حکم، حضرت علي (ک) او ځینې نورو اصحابو، قرآن حکیم راټول کړ، چې د قرآن حکیم راټولونکیو ته "د وحې کاتبان" ویل کېدل.

د قرآن حکیم د نامو او د نامو د ماناوو په باب ډېرې خبرې شوي، چې موږ یې ځینو ته اشاره کوو:

الف- د قرآن کلمه له (قرائت) نه اخستل شوې، چې د (ویلو) په مانا دی؛ یعنې هغه کتاب، چې باید په ژوند کې تل ولوستل شي او پر احکامو یې عمل وشي.

ب-ځینې وایي: د قرآن کلمه له (قرن=یقرن) څخه اخستل شوې، چې د راټولولو پر مانا دی؛ یعنې څښتن د ژوند ټول ځیزونه په دې کتاب کې را ټول کړي؛ لکه څنګه چې څښتن تعالی د"انعام" سورت په ۵۹ آیت کې دې خبرې ته اشاره کړې ده:

((وَعِندَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لاَ يَعْلَمُهَا إِلاَّ هُوَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَا تَسْقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلاَّ يَعْلَمُهَا وَلاَ حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الأَرْضِ وَلاَ رَطْبٍ وَلاَ يَابِسٍ إِلاَّ فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ[1]= او (له حسه) د پټو (سرچینو) کونجیانې یوازې له هغه سره دي، چې بې له هغه بل څوك پرې نه پوهېږي او څه چې په وچه او سمندر کې دي، الله تعالی پرې پوه دی او هره پاڼه، چې رالوېږي، پر هغې (هم) پوه دی او هر دانه، چې د ځمکې په تپو تیارو کې پټېږي او ټول

[1] (انعام/۵۹)

لامده او وچ، په څرګند کتاب [=د الله تعالی د علم کتاب ] کې لیکل شوي.))

نو ویلای شو، چې قرآن حکیم (د هستۍ کارنامه) او یا (ستر او بشپړ دایرة المعارف/ پوهنغونډ) دی؛ نو پایله داچې څښتن تعالی، ټولې اروایيزې، اندیزې او ګروهیزې اړتیاوې، په دې کتاب کې راټولې کړي او قرآن حکیم د هستۍ پوهنغونډ دی، چې د پخوانیو ټولو پیغمبرانو د چارو بشپړونکی دی؛ نوځکه ویل کېږي:

تر ټولو بشپړ او پوره دین اسلام دی او لکه چې روستی پیغمبر؛ حضرت محمد صلی الله علیه وآله وسلم دی؛ نو تر ټولو بشپړ کتاب، قرآن حکیم دی.

د قرآن حکیم یوه نامه ذکر دی.

((وَهَذَا ذِكْرٌ مُّبَارَكٌ أَنزَلْنَاهُ أَفَأَنتُمْ لَهُ مُنكِرُونَ[1]= او دا (قرآن) چې موږ (پرتا) نازل کړی؛ مبارك نصحیت دی؛ نو ایا تاسې ترې منکر یاست؟))

---

[1] (انبیاء/۵۰)

قرآن حکیم له نصیحت او پنده ډك دی، چې د بشریت کاروان کمال ته ورسوي.

که قرآن حکیم نه وای؛ نو انسانان به په تیارو او ناپوهۍ کې پاتې ول؛ لکه څنګه چې ستر څښتن تعالی، په ابراهیم سورت کې، رڼا ورته ویلې ده:

* ((الَر كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِ رَبِّهِمْ إِلَى صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ[1]= الف، لام، را (دا) یو کتاب دی، چې موږ پر تا نازل کړی، چې خلك د هغوی د پالونکي په اجازه (د شر، ظلم او ناپوهۍ) له تیارو راوباسې او (د ایمان، عدل او پوهې) رڼا ته یې راولې، د ناماتي (او) ستایل شوي (الله تعالی) لارې ته.))

د قرآن حکیم یوه نامه (بیان) دی.

((هَـذَا بَيَانٌ لِّلنَّاسِ وَهُدًى وَمَوْعِظَةٌ لِّلْمُتَّقِينَ[2]= دا (قرآن) خلکو ته یو بیان او متقیانو ته لارښوونه او نصیحت دی.))

---

[1] (ابراهیم/۱)

[2] (آل عمران/۱۳۸)

**پینځمه زدکړه:**

## د قرآن حکیم د اوډونې او راټولولو پړاوونه

پوهان او دیني عالمان ګروهن دي، چې قرآن حکیم دوه ډوله پر پیغمبر اکرم "ص " نازل شوی.

*** سوکه سوکه نزول:**
د پیغمبر اکرم "ص" تر بعثت روسته، چې په ټولنه کې پېښې رامنځ ته کیږي؛ نو څښتن تعالی به پیغمبر اکرم "ص" ته آیتونه رانازلول او لارښوونه یې ورته کوله او پیغمبر اکرم "ص" هم آیتونه خلکو ته رسول او لارښوونه یې ورته کوله.

*** یوځلي نزول:**
د قرآن شریف ټول آیتونه، چې په **۲۳** کالو کې پر حضرت محمد "ص" نازل شوي ول، د قدر پر یوه شپه، د رمضان په

میاشت کې، په بشپړه توګه او یوځای نازل شول، چې ددې خبرې شاهد دا آیت دی:
((إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ[1]= په حقیقت کې موږ دا (قرآن) د قدر(= کچې او اندازه کولو) پر شپه نازل کړی دی.))

## قرآن حکیم څنګه راټول شو؟

چې الهي آیتونه به نازل شول؛ نو حضرت محمد صلی الله علیه وآله وسلم به څو ځل له ځان سره تکرارول، چې حفظ یې کړي او بیا یې خلکو ته ورښوول او د هغه وخت خلك هم داچې، ډېری نالوستي وو؛ نو هغوی دا آیتونه حفظول او داچې خلك، د الهي آیتونو له زده کړې سره مینه پیدا کړي؛ نو پېغمبر اکرم صلی الله علیه وآله وسلم به خلك د قرآن حکیم حفظولو ته هڅول او هغوی ته یې له بیت الماله تنخواه ټاکله او داچې عرب بااستعداده وو او په حفظ کې یې ماغزو ښه کار کاوه؛ نو یو له

[1] (قدر/۱)

بل سره يې سيالۍ کولې، چې په همدې توگه، څه موده تېره شوه، چې دې پړاو ته (د قرآن حکيم د حفظ) پړاو ويل کيږي.
بل پړاو داسې و، سره له دې، چې د څښتن تعالی استازي خپل ياران د قرآن حکيم حفظولو ته هڅول. ځينو ته يې دنده ورکړه، چې په احتياط، د قرآن حکيم پر ضبط او ثبت لاس پورې کړي.
د قرآن کريم د ليکلو چار يو ازاد چار نه و، چې د چا به خوښه شوه؛ نو قلم يې راخسته او ليکل يې کول؛ بلکې ددې کار لپاره د څښتن تعالی د استازي اجازه هم اړينه وه.

## چا ته يې د وحې کاتبان ويل؟

هغوی ته د وحې کاتبان ويل کېدل، چې د حضرت محمد صلی الله عليه وآله وسلم په حکم يې په ډلييزه توگه قرآن حکيم ليکه.
د وحې کاتبان يې څلوېښت ٤٠ تنه ښوولي، چې مشهور يې دادي:
حضرت علي بن ابطالب، حضرت معاذ بن جبل، حضرت ابوزيد ابن زيد بن نعمان، حضرت ابن ابی کعب ابن قيس، حضرت زيدبن ثابت او حضرت ابن مسعوده(رضی الله عنهم)

## قرآن کریم پر څه لیکل کېده؟

د پېغمبر اکرم پرمهال چاپخایونه نه ول او ډېری به قرآن حکیم:
* دکجورو پر پاڼو
* پر توږل شویو او نریو تیږو
* هډوکیو
* لرگیو
* پر نازکو او توږل شویو تختو
* او پر څرمنې لیکل کېده.

داکتر مظلومي په خپل کتاب"پژوهشي پیرامون آخرین کتاب الهي"په لومړی ټوك ، ٤٠ مخ کې لیکلي:
قرآن حکیم به د څرمنې او کاغذ او وریښمو پر ټوکرانو لیکل کېده، چې"صحیفه" ورته ویل کېده او جمع ته به یې"صحف"وایه.

## کله پر کاغذ د قرآن حکیم لیکل دود شول؟

هغه لیکونه، چې پېغمبر اکرم صلی الله علیه وآله وسلم د روم او فارس واکمنانو ته لیکلي، ښيي: هغه مهال کاغذ دود و؛ خو د هارون الرشید تر حکومت پورې، قرآن حکیم پر پوټکي لیکل

کېده، چې تر هارون الرشيد روسته، قرآن حکيم رسماً پر کاغذ وليکل شو.

**شپږمه زدکړه:**

## د قرائت او تجويد علم

د څښتن تعالی استازي، چې الهي آيتونه يې خلکو ته ورسول او خلکو حفظ کړل؛ نو پيغمبر اکرم، د قرائت د علم او تجويد بنسټ کېښود. پيغمبر اکرم صلی الله عليه وآله وسلم حکم وکړ، چې د تجويد د علم له مخې، د قرآن حکيم، د ويلو لپاره اعراب (حرکات او د قرآن حکيم علامتونه) کېږدئ.

هغه مهال، چې د څښتن تعالی استازي د قرائت بنسټ کېښود؛ نو په خلکو کې ۵۰ ډوله قرائتونه دود ول، چې ددې علم پوهانو ترې (۱٤) ډوله راواخستل او نور يې پرځای پرېښوول.[1]

---

[1] . ددې څوارلس ډوله قرآئت د شرح او ښه پوهېدنې لپاره وګورئ: قرآنپوهنه، آيت الله العظمی خويي، د اجرالدين اقبال پښتو ژباړه، چې په انلاين بڼه يې په: www.andyal.com وېبپاڼه کې هم لوستی شئ.

د قرائت او د تجوید علم، علمي بنسټ، د پیغمبر اکرم صلی الله علیه وآله وسلم پرمهال کېښوول شو او حضرت ابن مسعود (رض) په ځانګړې بڼه راټول کړ.

پیغمبر اکرم صلی الله علیه وآله وسلم وویل: څوك چې غواړي قرآن حکیم په ترتیل قرائت کړي؛ نو د ابن مسعود له ترتیله دې کار واخلي.

د مزمل سورت په ٤ آیت کې وایي:

((أَوْ زِدْ عَلَيْهِ وَرَتِّلِ الْقرآن حكيم تَرْتِيلاً =یا پر هغې (نیمایي) یو څه زیاته کړه او قرآن حکیم په ځیر، رو رو او واضح لوله؛))

امام صادق وایي: په ښکلي غږ قرآن حکیم ته ښکلا ورکړئ؛ ځکه د غږ ښکلا، د قرآن حکیم ښکلا لا نوره هم زیاتوي.

پیغمبر اکرم صلی الله علیه وآله وسلم وایي: د وقفونو مراعاتول او له سمو مخرجونو د توریو ادا کولو ته ترتیل وایي.

## تجوید هرمرو زده کړئ

شك نشته، د تجوید علم، د قرآن حکیم د سم او ښکلي قرائت لپاره اړین دی.

د پیغمبر اکرم صلی الله علیه وآله وسلم اهل بیتو او اصحابو به قرآن حکیم په ښکلي غږ او تجوید لوسته. هغوی له لارې

تېرېدل؛ د قرآن حکيم د غږ خوږلني به دروول او قرائت چې به پای ته ورسېد، بيا يې خپله لار نيوه. تجويد په خپله يو علم دی، چې موږ دلته د وييني د لنډيز لپاره نه دی راوړی.
گران لوستونکي کولای شي، اړوند کتابونو ته مراجعه وکړي.

**اوومه زدکړه:**

## وحې څه وخت پيل شوه؟

د دې پوښتنې تر ځواب مخکې، لومړی بايد ځان د وحې پر مانا پوه کړو.
وحې د څښتن تعالی او پرښتو له اړخه څرگنده اشاره او پوهولو ته وايي، چې پېغمبرانو ته راځي.
په قرآن شريف کې له وحې مطلب، د الهي آيتونو نزول دی، چې حضرت جبرائيل (عليه السلام) به پېغمبر اکرم صلی الله عليه وآله وسلم ته راوړل او پېغمبر اکرم صلی الله عليه وآله وسلم به خلکو ته رسول.
ځينې عالمان او څېړونکي وايي: پر پېغمبر اکرم صلی الله عليه وآله وسلم، له وړوکتوبه وحې پيل شوه، چې د خپلې دايې؛ "حليمه سعديه" تر روزنې لاندې و.

حضرت جبرائیل به د حضرت محمد صلی الله علیه وآله وسلم مخې ته راښکاره کېده او آنحضرت به حضرت جبرائیل، په حقیقي بڼه لیده.
حضرت جبرائیل د پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم ټټر د زمزم پر اوبو ووینځه او د یوې وینا له مخې: پرښتو پیغمبر اکرم صلی الله علیه وآله وسلم له ځان سره اسمان ته بوتله او ټټر یې ورته له خوالو، ښوونو، حقیقتونو او علمونو ډك کړ او سینه یې ورته پراخه او نورانیت یې ورپر برخه کړ.
وحې تر ٤٠ ځلوېښت کلنۍ پورې؛ یعنې د بعثت تر پیلېدو پورې جاري وه او د ځرګندو دلایلو په رڼا کې، څښتن تعالی د حضرت جبرائیل په واسطه، قرآن حکیم په "حرا غار" کې، پیغمبر اکرم صلی الله علیه وآله وسلم ته راووړ او حضرت جبرائیل وویل: محمده! ووایه!
او د مفسرانو د سمو سیخو ویناوو له مخې، د علق سورت پینځه لومړي آیتونه، د وحې پیل ګڼل کیږي، چې دادي:
((اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ.خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ.اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ.الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ.عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ= ولوله! د خپل پالونکې په نامه، چې (هر څه یې) پنځولي، انسان یې له ځوړندې (پرنډې وینې) پیدا کړ. ولوله چې ستا پالونکی (تر

ټولو) ډېر عزتمن دی؛ هغه [پالونکی] ، چې په قلم يې ښوونه وکړه، انسان ته يې هغه څه وښوول، چې پرې نه پوهېده.))
د څښتن تعالی استازي ورکتل، چې آنحضرت "ص" په دې باب، داسې وايي: د آيتونو ويلو پرمهال داسې وم؛ لکه ټول قرآن حکيم يې چې زما پر زړه ليکلی وي او د حرا په غار کې د وحې تر رانازلېدو ۲۳ کاله روسته، د څښتن تعالی له اړخ آيتونه، پر پېغمبر اکرم نازل شول او په رمضان مياشت کې، د "قدر" پر يوه شپه يو ځل بيا، په بشپړه توګه، قرآن حکيم، پر پېغمبر اکرم نازل شو.

## آيا وحې پر حضرت محمد صلی الله عليه وآله وسلم نه پرېکونې وه؟

مرحوم ډاکتر رجبعلي مظلومي "پژوهشي پيرامون آخرين کتاب الهي " په لو مړي ټوك، شپږويشتم مخ کې ليکلي:
د علق سورت د ۵ آيتونو تر نازلېدو روسته، وحې پرې شوه، تر هغه چې د (يا ايها المدثر) آيت نازل شو او يو ځل بيا چې کله يهودانو له رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم نه پوښتنې وکړې او پېغمبر اکرم "ص" ژمنه ورکړه ، چې د وحې له ژبې به ځواب ورکړي او ( ان شا الله ) يې و نه وايه؛ نو څښتن تعالی هم د يوې

موديٖ لپاره وحيٖ را و نه ليږله، چيٖ ديٖ موديٖ ته "فترت" ويل کيږي.

## نزول، تنزيل او نجوم څه ته وايي؟

**د نزول تعريف:**

هغه کلام، چيٖ د څښتن تعالی له اړخ د پيغمبر اکرم صلی الله عليه وآله وسلم پر زړه نازليده.

**د تنزيل تعريف:**

د څښتن تعالی هغه کلام، چي حضرت جبرائيل راووړ.

**د نجوم تعريف:**

هغه آيتونه او کلام، چيٖ په پټه او غيبو کيٖ، د پيغمبر اکرم "ص" زړه ته راليږل کيدل.

د حضرت محمد"ص" په تگ سره، وحيٖ هم پريٖ شوه او د قيامت تر ورځيٖ به وحيٖ نه راځي او قرآن شريف هغه گرانبيه زيرمه ده، چيٖ د مسلمانانو د نيکمرغی لپاره نازل شويٖ ده.

**اتمه زدکړه:**

## د قرآن حکیم شأن نزول

د قرآن شریف آیتونه، د نزول له نظره دوې برخې دي:
* هغه آیتونه، چې بې له کومې پېښې یا د خلکو او اصحابو له پوښتنې پرته نازل شوي.
* هغه آیتونه، چې له ځینو پېښو او پیغمبر اکرم"ص" نه تر پوښتنو روسته رانازل شوي.
د قرآن شریف ډېر آیتونه هم د لومړۍ برخې په څېر، چې د توحید، نبوت، معاد، عدل او ورته چارو په باب نازل شوي، چې د نزول د شأن په باب یې پلټنه پکار ده.

**د شأن نزول تعریف:**

شأن نزول هماغه زمینه ده، چې روسته ترې، پر پیغمبر اکرم"ص" آیتونه نازلېدل، چې د قرآن حکیم د مفسرینو له نظره، د آیت د مفهوم د پوهېدو لپاره خورا اړین دي.
د بېلگې په توکه: هغه آیتونه، چې شان نزول لري:

((وَلِلّهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ فَأَيْنَمَا تُوَلُّواْ فَثَمَّ وَجْهُ اللّهِ إِنَّ اللّهَ وَاسِعٌ عَلِيمٌ[1]= او ختيځ او لويديځ، ټول د الله تعالى دي او هرې خوا ته چې مخ کړئ، هماغه يې د اطاعت لورى دى. بېشکه الله تعالى د پراخ (نعمت) څښتن (او) پوه دى.))

ددې آيت شان نزول:

په يوه تياره شپه کې، له رسول الله "ص" سره ځينې ياران ول، چې د لمانځه پرمهال، هر يو، يوه لوري ته لمونځ وکړ او تر لمانځه روسته، ټول په دې فکر کې ول، چې لمونځ يې چې د قبلې پر لوري نه دى کړى؛ قبول شوى که.

ددې آيت په رالېږلو، څښتن تعالى يې له زړه وېره لرې کړه او ورته يې وويل: لمونځونه مو منل شوي؛ ځکه هغوى، په هغه توره شپه کې، د قبلې موندو لپاره کومه لار نه درلوده.

يادونه:

که څه ددې آيت په راتلو، د مسلمانانو د شپې د لمانځه ستونزه هواره شوه؛ خو دا په دې مانا نه ده، چې مسلمانان په هغه وخت کې، چې قبله ورته معلومه وي، د خپلې خوښې، بل لوري ته

---

[1] (بقره/١١٥)

لمونځ وکړي او که له آیته داسې اخستنه وشي؛ نو باید ووایم ، چې ددې آیت د نزول د شأن په باب تېروتی دی.
((لَيْسَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ الصَّالِحَاتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُواْ إِذَا مَا اتَّقَواْ وَّآمَنُواْ وَعَمِلُواْ الصَّالِحَاتِ ثُمَّ اتَّقَواْ وَّآمَنُواْ ثُمَّ اتَّقَواْ وَّأَحْسَنُواْ وَاللّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ[1]=هغوی چې ایمان یې راوړی (آمنوا) او غوره چارې یې کړې وي (عملوا الصالحات)؛ نو چې مخکې یې څه خوړلي ول، پر هغو به و نه نیول شي ( د تحریم د حکم تر نزول مخکې یې چې شراب څښلي وي؛ نو سزا به ور نه کړه شي ) په دې شرط، چې د بیا لپاره ځان وژغوري ( تقوا ) او پر ایمان ټینګ ودرېږي (آمنوا) او ښه کارونه وکړي (عملواالصالحات) بیا چې له کومو چارو منع وشي او لاس ترې واخلي (تقوا) او څه چې د الله تعالی امر وي، و یې مني (آمنوا) بیا(هم) پرهېزګاري وکړي او(هم) نېکي (احسنوا) او الله تعالی نېکان خوښوي.))
ویل کېږي، چې (عثمان بن مظعون او عمرو ابن معدی کرب) به ویل: د شرابو څښل حرام نه دي! او د مائدې همدا آیت یې د

[1] (مائده/۹۳)

استدلال لپاره راوړ او ددي آيت د نزول شأن ته يې پام نه کاوه او که کړی يې وي؛ نو پوه شوي به ول، چې له دې آيته دا مطلب نه دی، چې هغوی يې وايي.

حال دا، له شرابو د ځان ژغورولو لپاره لاندې آيت هم راغلی دی:

* (( يا ايها الذ ين آمنو انما الخمر ولميسر والا نصاب والا زلام رجس من عمل الشيطا ن فا جتنبو لعلکم تفلحون= ايمانوالو! له شرابو ، جواری او بوت نمانځنې ډډه وکړئ، چې دا ټول پليد دي او شيطاني عمل دی))

چې ښبتن تعالی په دې آيت کې د شرابو ښبل يو شيطاني چار وباله؛ نو ښبتن تعالی د داسې خلکو د ځواب لپاره، پورتنی آيت نازل کړ او هغوی چې توبه يې ايستې او نېک کارونه يې کړي، ببښلي او مؤمنان شوي دي.

نهمه زدکړه:

## مدني سورتونه او آيتونه

د څښتن تعالی استازي، په مکه کې تر لسو کلونو مبارزې او د دين تر تبليغ روسته، د مشرکانو د زور زياتي له لامله، له مسلمانانو سره يثرب (مدينې) ته هجرت وکړ.
پيغمبر اکرم "ص" او مهاجرو مسلمانو، په مدينه کې ۱۳ کاله، د اسلام لپاره هلې ځلې وکړې او هغه آيتونه، چې په هجرت کې پر پيغمبر اکرم نازل شوي (مدني) آيتونه نوميږي.

## د مدني آيتونو ځانګرنې

هغه آيتونه، چې الهي احکام، حدود، ټولنيز قوانين، فرايض، واجبات، د جهاد په باب مسايل، د منافقانو او د هغوی د خطراتو په باب خبرې پکې راغلي دي.

## د مدني آيتونوپه باب څو نورې خبرې

تر هجرت روسته، ټولنيز تاوتريخوالی خورا لږ شوی و.

په اسلامي ټولنه کې د ښښنې او روغې خبرې وې. آيتونه اوږده او احکام پر تفصيل راتلل. د اسلام جزئي احکام هم بيانېدل، چې د نوې اسلامي ټولنې، بنسټ پياوړی شي او هر مسلمان پر وګړيزو او ټولنيزو احکامو پوه شي. زکات فرضېږي او د مسلمانانو وټيز ځواک هم پياوړی کېږي.
د مسلمانانو ترمنځ د رورولۍ اعلان کېږي، چې ټول د قانون پر وړاندې يو شانته دي.
د دښمنانو په مقابل کې دفاع رامنځ ته کېږي، د جهاد آيتونه نازلېږي او مؤمنين د لومړي ځل لپاره، توره په لاس کې اخلي او مخالفينو ته خپل پوځي شتون اعلانوي.
منافقان رټل کېږي او کتابيان (مسيحيان او يهوديان) اسلام ته رابلل کېږي او د اسلام حقانيت يې په کتابونو کې اوڅارېږي او حضرت محمد صلی الله عليه وآله وسلم، د حضرت عيسی (عليه السلام) موعود پېغمبر اکرم معرفي کېږي او د اسلام حقايق، په ټينګو او پياوړيو دلايلو او په مفصله توګه ويل کېږي.

## د مدني آيتونو بېلګې

* ((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَوْفُواْ بِالْعُقُودِ أُحِلَّتْ لَكُم بَهِيمَةُ الأَنْعَامِ إِلاَّ مَا يُتْلَى عَلَيْكُمْ غَيْرَ مُحِلِّي الصَّيْدِ وَأَنتُمْ حُرُمٌ إِنَّ اللّهَ يَحْكُمُ مَا

يُرِيدُ [1]= مؤمنانو! پر ژمنو ( او تړونو مو) وفا وکړئ. تاسې ته د څارویو ( غوښه او جنین) حلال شوي؛ خو هغه چې تردې روسته به در و لوستل شي ( او استثنا شي) او د احرام په حال کې ښکار کول روا مه بولئ؛ په رښتیا، الله تعالی چې څه غواړي (او مصلحت وي) حکم کوي.))

* ((إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَن تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ[2]= په حقیقت کې هغوی چې په مؤمنانو کې د بدنامۍ خپرول خوښوي؛ په دنیا او آخرت کې ورته دردناك عذاب دی او الله تعالی پوهېږي او تاسې نه پوهېږئ.))

* ((وَاعْلَمُواْ أَنَّمَا غَنِمْتُم مِّن شَيْءٍ فَأَنَّ لِلّهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ إِن كُنتُمْ آمَنتُمْ بِاللّهِ وَمَا أَنزَلْنَا عَلَى عَبْدِنَا يَوْمَ الْفُرْقَانِ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ وَاللّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ[3]= او که تاسې پر الله او پر هغه څه ایمان راوړی وي، چې له حقه د باطل د بېلوالي پر ورځ (یعنې) د دواړو لښکرو د

---

[1] (مائده/١)
[2] (نور/١٩)
[3] (انفال/٤١)

مخامخېدو پرورځ [د بدر غزا ورځ] موږ پر خپل بنده نازل کړي ول) پوه شئ، که هر څه، په غنيمت ونيسئ؛ نو پينځمه يې د الله تعالی او پيغمبر او (د هغه) د خپلوانو، پلار مړيو، مسکينانو او مسافرو لپاره ده (نو دا برخه په خوښۍ ورکړئ) او الله تعالی پر هر څه قادر دی.))

## مکي سورتونه

هغه آيتونه مکي دي، چې پر پيغمبر اکرم "ص" په مکه کې نازل شوي او د يادونې وړ ده، چې د څښتن تعالی استازي، د وحې تر پيل روسته، لس کاله په مکه کې ژوند وکړ.

## د مکي سورتونو ځانګړنې

* هغه آيتونه دي، چې په مکه کې نازل شوي دي.
* هغه سورتونه، چې په پيل کې يې (کلا) راغلي دي.
* هغه سورتونه، چې سجده پکې وي؛ لکه:

الف: فصلت

ب: نجم

ج: علق

د: سجده

* هغه سورتونه، چي په پيل کې يې د خوالې توري راغلي وي؛ لکه ( الم، طه، کهيعص)؛ خو بې د "البقره" او "آل عمران" له سورتونو.

* هغه سورتونه، چې د پخوانيو امتونو او پېغمبرانو کيسې پکې راغلې وي؛ خو بې له البقره سورته.

* هغه سورتونه، چې د حضرت آدم او شيطان کيسه پکې راغلې وي؛ خو بې له البقره سورته.

* هغه سورتونه، چې "ياايها الناس" پکې راغلی دی.

* هغه سورت، چې "ياايها الذين آمنوا" پکې نه وي راغلی؛ خو بې د حج له سورته.

* د قرآن حکيم روستي لنډ آيتونه مکي دي.

## د مکي سورتونو نورې ځانګړنې

مکي آيتونه په داسې يوه چاپېريال کې نازل شوي، چې پېغمبر اکرم "ص" له ستغو مشرکانو او متعصبو جنګياليو سره مخ و، چې د حق آيتونو اورېدو ته چمتو نه ول او پر پېغمبر اکرم "ص" يې ملنډې وهلې.

دا آیتونه لنډ او ګوابنوونکي دي، چې پکې د هغه وخت د خلکو ديني او اخلاقي انحرافات راغلي دي.

په څرګندو دلايلو، د الله تعالی شتون زبادوي او د قيامت د هرومرو راتګ خبر ورکوي او له بوتنمانځنې سره په کلکه مبارزه کوي.

په دې آيتونو کې څښتن تعالی، په ډېرو ځایونو کې قسم ياد کړی، چې معمولاً د (کلا) له کلمې سره یوځای دی.

د څښتن تعالی آيتونه ټولنيز او غوڅ بيانېږي او د اسلام احکام او قوانين پکې نه دي راغلي؛ ځکه خلك يې عملي کولو ته چمتو نه وو او مسلمانان په دې آيتونو کې صبر او زغم ته رابلل شوي دي.

## د مکي آيتونو څو بېلګې

* ((الَر كِتَابٌ أُحْكِمَتْ آيَاتُهُ ثُمَّ فُصِّلَتْ مِن لَّدُنْ حَكِيمٍ خَبِيرٍ[1]= الف ، لام ، راء. (دا قرآن) يو کتاب دی، چې آيتونه يې ټينګ او

---

[1] (هود/۱)

پایند شوي، بیا د حکیم (او) خبیر الله لخوا (بې له نیمگړتیاوو) په څرگنده تشریح شوی))

* ((أَفَلاَ يَعْلَمُ إِذَا بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُورِ[1]= ایا نه پوهیږي (د قیامت) پر وخت، څه چې په قبرونو کې دي، (ژوندي) راپورته کیږي.))

* ((إِنَّ إِلَهَكُمْ لَوَاحِدٌ[2]=چې بېشکه ستاسې معبود یوازې ایکې یو دی.))

* ((قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ.اللَّهُ الصَّمَدُ.لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ.وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ (اخلاص)= ووایه: (( هغه "الله" ایکي یو دی، "الله" پر ځان پوره او مړه خوا (صمد) دی؛ نه یې څوك زیږولی او نه له چا زیږېدلی او هېڅوك یې سیال او ساری نه دی.))

---

[1] (عادیات/۹)

[2] (صافات/٤)

**یوولسمه زدکړه:**

## د قرآن حکیم د آیتونو ظاهر او باطن

قرآن حکیم یو ظاهر لري، چې د الهي آیتونو هماغه ظاهري مانا یې ده؛ خو د رسول اکرم صلی الله علیه وآله وسلم د وینا له مخې، قرآن حکیم هم ظاهر لري او هم باطن او په هر باطن کې یې اووه نور باطنونه دي.

## آیا د قرآن حکیم ظاهر او باطن ټکر لري؟

ددې پوښتنې ځواب "نه" دی.
د قرآن حکیم ظاهر او باطن هېڅکله په ټکر کې نه دي؛ ځکه په لومړۍ کتنه کې، یوه مانا لري؛ خو که ځوك وغواړي، په ستر سمندر کې ورغوپه شي؛ نو کولای شي، ډېر حقایق ترې راوباسي، چې ډېرو ته معلوم نه دي.
په دې باب مو یو مثال ته پام را اړوم:

((وَاعْبُدُواْ اللّهَ وَلاَ تُشْرِكُواْ[1]= او الله ولمانځئ او هېڅوك شريك ورسره مه نيسئ))

د آيت د باطن د مفهوم لومړی پړاو.

څه چې ددې آيت له ظاهره معلومېږي دادی، چې بايد د بوتانو له عبادته ډډه وشي؛ ځکه د بوتانو عبادت، له الله تعالی پرته بل ته خشوع او خضوع ده او انسان د څښتن تعالی له اطاعته لرې کوي؛ لکه څنگه چې له شيطانه لاروي، د شيطان عبادت دی.

اړوند آيت داسې وايي:

((أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ يَا بَنِي آدَمَ أَن لَّا تَعْبُدُوا الشَّيْطَانَ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ[2]= د آدم اولادې! ايا ما له تاسې سره تړون نه و کړی، چې شيطان مه نمانځئ؛(ځکه) چې هغه مو ښکاره دښمن دی؟!))

ځکه د شيطان په عبادت، د څښتن تعالی عبادت له منځه ځي.

دآيت د مفهوم د باطن دويم پړاو:

---

[1] (نساء/۳۳٦)

[2] (يس/٦۰)

که آیت ته ځیر شو؛ نو و به وینو، که انسان بې له خدایه او یا د خپلو ځاني غوښتنو لاروي وکړي؛ نو هیڅ توپیر نه لري او دواړه ناروا او غلطې چارې دي.

څښتن تعالی وایي: ((افرایت من اتخذ الهه هواه= آیا هغه دې و نه لید، چې ځاني غوښتنې یې خپل څښتن کړ؟))

دآیت د مفهوم د باطن درییم پړاو:

که آیت ته سم ځیر شو؛ نو پوه به شو: هغوی چې بې له خدایه، د بل هر چا اطاعت وکړ؛ نو څښتن تعالی به یې پر عذاب ککړ کړي او په دوزخ کې به یې واچوي.

((ولقدذ رانالجهنم کثیراً من الجن.....اولئك هم الغافلون = دوزخ به له پیریانو او انسانانو ډك کړو؛ ځکه دوی له غفلت کوونکیو څخه وو.))

د آیت د باطن څېړنه او پایله:

* لومړی پوه شو، چې باید د بوتانو عبادت ونشي.
* انسان باید بې له الله تعالی، بل چاته خاضع او خاشع نشي.
* انسان باید له ځاني غوښتنو لاروي و نه کړي.
* باید له الله تعالی غفلت ونشي او بې له هغه بل ته پاملرنه ونشي.

**دولسمه زدکړه:**

## د قرآن حکیم محکم او متشابه آیتونه

هغوی چې له قرآن حکیم سره آشنایي نه لري؛ په لومړۍکتنه کې داسې انگېري، چې د قرآن حکیم آیتونه، د توریو، حرکاتو او د هغه د درك له اړخ، یو له بل سره یو شان دي؛ خو چې کله آیت ته سم ځیر شو؛ نو پر آیت د پوهېدنې لپاره به ډېرې هڅې او اندنې ته اړ شو.

د قرآن حکیم ځینې آیتونه، د مانا او مفهوم له نظره داسې دي، چې د پوهېدنې وړ دي او دلیل ته اړتیا نه لري؛ خو ځینې د مفهوم له اړخ، روښانه نه دي، چې د پوهېدنې لپاره یې نورو آیتونو ته اړین یو.

## محکم آیتونه

**د محکم لغوي مانا:**

هغه څیز، چې محکم، ټینگ، استوار او زیان نه منونکی وي او فساد ورته لار نشي موندلای.

**محکم د قرآن حکیم له تفسیري اړخه:**

هغه آيتونه، چې مانا او مفهوم يې په بشپړه توګه څرګند دی او د پوهې لپاره يې نورو آيتونو او روايتونو ته اړتيا نه وي؛ لکه هغه آيتونه، چې د احکامو، موعظو، ادابو او اخلاقو په باب خبرې کوي؛ لکه:

* ((وَأَطِيعُواْ اللّهَ وَرَسُولَهُ وَلاَ تَنَازَعُواْ فَتَفْشَلُواْ وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ وَاصْبِرُواْ إِنَّ اللّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ[1]= او د الله تعالی (د حکم) او د هغه د استازي اطاعت وکړئ، په خپلو کې شخړې مه کوئ، چې بې زړه او کمزوري شئ او ځواك (او برم) مو له منځه ولاړ شي! له زغمه کار واخلئ؛ (ځکه) چې الله تعالی له زغمناکو سره دی.))

* ((يَا بُنَيَّ أَقِمِ الصَّلَاةَ وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنكَرِ وَاصْبِرْ عَلَى مَا أَصَابَكَ إِنَّ ذَلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ[2]= یه زما زويکه! لمونځ ادا کړه او پر نېکيو امر او له بديو منع کوه او هر کړاو، چې دربانديې راشي، و يې زغمه چې دا له سترو چارو دي.))

---

[1] (انفال/٤٦)

[2] (لقمان/١٧)

* ((وَقُل لِّعِبَادِي يَقُولُواْ الَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَنزَغُ بَيْنَهُمْ إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلإِنْسَانِ عَدُوًّا مُّبِينًا[1]= او زما بندګانو ته ووايه: ((چې تل ښې خبرې وکړئ))؛ ځکه شيطان(د ناوړو خبرو له لارې) د هغوی ترمنځ فتنه او فساد راولاړوي؛ [ځکه] چې شيطان تل د انسان څرګند دښمن دی.))

په دې دريو آيتونو کې مو وکتل، چې د هر آيت مانا او مفهوم روښانه دی او پر مفهوم، د پوهېدو لپاره، نورې پلټنې ته اړتيا نشته، چې داسې آيتونو ته محکمات ويل کيږي.

* ((هُوَ الَّذِيَ أَنزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آيَاتٌ مُّحْكَمَاتٌ هُنَّ أُمُّ الْكِتَابِ وَأُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ[2]= هماغه الله دی، چې دا (اسماني) کتاب يې پر تا نازل کړ، چې يوه برخه آيتونه يې "محکمات" [=څرګنداو روښانه] دي ، چې د دې کتاب آريز بنسټ دی (او د نورو آيتونو هر ډول پېچلتوب، دې آيتونو ته په مراجعه کولو لرې کيږي) او بله برخه يې "متشابهات" دي (هغه آيتونه، چې مطالب يکې په لوړه کچه څېړل شوي او پردې سربېره، ځينې

[1] (اسراء/۵۳)

[2] (آل عمران/۷)

نور اړخونه هم پکې په پام کې نیول شوي؛ نو د لوستونکي ذهن ته په لومړي ځل لوستو سره بیلابیل احتمالات راځي؛ خو بیا محکماتو ته په پام سره، د هغوی تفسیر روښانیږي)))
په ټول کې د قرآن حکیم آیتونه دوه ډوله دي:
۱- محکمات.
۲-متشابهات.

**د یارلسمه زدکړه:**

## محکمات او متشابهات

**دویمه برخه: متشابه آیتونه:**

د متشابهاتو لغوي مانا:

هغه څیزونو ته متشابهات ویل کیږي، چې یوشان وي.

**له قرآني نظره د متشابه تعریف:**

هغه آیتونه، چې مفهوم او مانا یې روښانه نه وي او د پوهې لپاره یې نورو روایتونو او آیتونو ته اړتیا وي او په بله وینا:

هغه آیتونه، چې د انسان لپاره مشتبه وي.

د قرآن حکیم لاندې آیت هم ګواهي ورکوي، چې د قرآن حکیم ځینې آیتونه متشابه دي.

* ((اللَّهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ الْحَدِيثِ كِتَابًا مُّتَشَابِهًا مَّثَانِيَ تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُودُ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمْ وَقُلُوبُهُمْ إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ ذَلِكَ هُدَى اللَّهِ يَهْدِي بِهِ مَنْ يَشَاءُ وَمَن يُضْلِلْ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ

هَادٍ[1]= الله تعالى ډېره غوره او ښکلې خبره، د کتاب [په بڼه] نازله کړې(داسې) کتاب، چې آيتونه يې (په ښکلا، ژوروالي او منځپانګه کې) يو بل ته ورته دي او بيا بيا راغلي آيتونه لري، چې په اورېدو يې له خپل پالونکي د وېرېدونکيو غوني ځيږېږي بيا يې دباندې او دننه (جسم او روح) د الله تعالى په ياد نرمېږي، دا د الله تعالى لارښوونه ده، چاته چې يې خوښه شي، هغه ته يې ورښيي او څوك چې الله تعالى بې لارې کړي؛ نو بيا ورته هېڅ لارښود نشته.))

و مو ويل: متشابه آيتونه هغه آيتونه، چې مانا يې روښانه نه وي او د پوهې لپاره يې د قرآن حکيم نورو آيتونو ته اړتيا وي.

د قرآن حکيم د متشابهو آيتونو څو مثالونو ته پام وکړئ:

* (( يدالله فوق ايد يهم = د الله تعالى لاس پر ټولو لاسونو بر دی.))

د آيت ظاهري مانا خو داده چې د الله تعالى لاس تر ټولو غښتلی او بر دی؛ حال دا، ټول ګروهن يو، الله تعالى جسم نه دی، چې لاس ولري؛ نو په دې آيت کې له «لاس» ځنې مطلب،

---

[1] (زمر/۲۳)

د الله تعالی ځواک دی، چې پر ټولو ځواکونو بر دی او په دې ځانګړنه کې هېڅ څوك وررسېدلای نشي، چې د"ليس کمثله شئ" له آيته په ګټنه داسې يو مفهوم ته رسېدای شو، چې د الله تعالی ځواک پر ټولو بر دی.
* ((وَجَاء رَبُّكَ وَالْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا[1]=او ستا (د) پالونکي [فرمان] او پرښتې ليکه په ليکه راشي.))
د آيت ظاهري مانا خو داده، چې د قيامت پر ورځ به الله تعالی او پرښتې په منظمو ليکو کې د محشر ډګر ته راځي. حال دا، ددې آيت واقعي مفهوم دا نه دی؛ ځکه د روايتونو له مخې پوهېږو، چې «الله تعالی نه ليدل کېږي»؛ ځکه جسم او ماده نه ده، چې وليدل شي؛ خو د شورى سورت له يوولسم آيته په ګټنې (ليس کمثله شی) ددې آيت واقعي مفهوم ته ورسېدای شو او هغه داچې، د قيامت پر ورځ به د الله تعالی پر ځواک او ارادې، پرښتې په منظمو ليکو کې د محشر ډګر ته راشي.
مهم ټکی:

[1] (فجر/٢٢)

پر قرآن حکیم د پوهېدنې لپاره پر محکماتو او متشابهاتو ځان پوهول خورا اړین دي، چې د قرآن حکیم په پوهېدو کې کاږه نه شو.

** څوارلسمه زدکړه:**

## متشابهات څه ګټه لري؟

ایا غوره به نه وه، د قرآن حکیم ټول آیتونه څرګند او واضح ول، چې د پوهې لپاره یې نورو آیتونو ته اړتیا نه وه؟
ددې پوښتنې د ځواب لپاره مو پام لاندې دوو خبرو ته را اړوم:
* داچې قرآن حکیم د ټولو زمانو کتاب دی او د یوې ځانګړې زمانې لپاره نه دی راغلی؛ نو باید ددې کتاب آیتونه داسې وي، چې د ټولو زمانو غوښتنو ته ځواب ورکړي او د علم له پرمختګ سره جوخت خو لا څه چې مخکې هم ترې حرکت وکړای شي.
* بل داچې قرآن حکیم باید پر یوه داسې بڼه وي، چې ټول انسانان په هره علمي کچه چې وي، ګټه ترې وکړي.
ددې دوو خبرو تر ویلو روسته، د متشابهاتو ځای په قرآن حکیم کې روښانیږي.
د بیلګې په توګه، لاندې آیت ته پام وکړئ:
*(( ومن آیاته خلق السموات والارض ومابث فیهمامن دابة= "د نړۍ د پالونکي له نښو څخه داده، چې اسمانونه او ځمکه یې وپنځول، چې ژوندي موجودات پکې ژوند کوي."

ددې آیت د مفهوم له مخې، په اسمانونو کې ژوندي موجودات شته، چې پکې ژوند کوي.

قرآن حکیم تقریباً یو زر او څلور سوه کاله مخکې نازل شوی او که په هغه وخت کې مو هغه خلکو ته چې له فضایي علومو خبر نه وو، ویلي ول، چې په اسمانونو کې هم ژوندي موجودات شته؛ نو څوك پرې نه پوهېدل؛ خو نن د فضایي علومو په رڼا کې، هر چا ته منلوړ ده او پردې سربېره، متشابه آیتونه، د کراماتو او معجزاتو زېرمه ده.

که متشابهو آیتونو ته پام وشي؛ نو جوته به شي، چې په دې آیتونو کې ډېرې خوالې دي. هر څېړونکی او د بصیرت/ لیدانې خاوند کولای شي، دا خوالې رابرسېره کړي، چې دا خبره په خپله ددې لامل ګرځي، چې انسان په الهي آیتونو کې اندنه وکړي او دې زېرمو ته ځان ورسوي.

## په قرآن حکیم کې نامفهوم آیتونه نشته

که قرآن حکیم ټکی په ټکی ولوستل شي؛ نو ان یو آیت به هم پکې پیدا نه کړئ، چې مانا او مفهوم نه لري؛ ځکه هر بې مانا کار "لغو" دی او الله تعالی له هر ډول عیب او نیمګرتیا پاک

دی، بېځایه چارې نه کوي او پردې سربېره، د قرآن حکیم یو آیت هم بل آیت نه دروغجنوي.
رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وایي: (( په رښتیا، قرآن حکیم ددې لپاره نه دی نازل شوی، چې یو آیت یې بل آیت تکذیب کړي؛ بلکې یو آیت بل آیت تصدیقوي؛ نو پر هر څه یې چې پوه شوئ، عمل پرې وکړئ او څه چې درته متشابه شول؛ نو یوازې ایمان پرې ولرئ.))
د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم له حدیثه جوتېږي، چې:
١-هېڅ آیت بل آیت نه دروغجنوي.
٢-ځینې آیتونه ځینې نور آیتونه تصدیقوي.
٣-که د متشابه پر مانا پوه نه شو؛ نو انکار ترې و نه کړو؛ بلکې ایمان دې پرې ولرل شي.
٤-پر ځینو آیتونو نه پوهېدل یې پر بیهوده توب دلالت نه کوي.
ددې خبرې یادول اړین دي، چې د قرآن حکیم د آیتونو محکم او متشابه والی، د انسانانو په پوهې پورې اړه لري او یوه نسبي خبره ده؛ کېدای شي یو آیت د یوه ستر عالم لپاره محکم (یعنې مانا یې ورته روښانه وي) او همدا آیت یو لږ لوستي انسان ته متشابه وي.
په دې باب د امام صادق رحمة الله دې روایت ته پام وکړئ:

د قرآن حکيم محکم هغه دی، چې عمل پرې کولای شو او متشابه هغه دی، چې چاته متشابه او نامعلوم وي.

او که متشابه آيتونه مو وليدل؛ نو ايا پاملرنه ورته و نه کړو او په حقيقت پسې ولاړ نه شو او که له نورو آيتونو په گټنه پرې ځان پوه کړو.

امام رضا رحمة الله عليه دا پوښتنه داسې ځواب کړې:

امام رضا وايي: ((که چا ځان د قرآن حکيم متشابه ته د محکم له لارې ورساوه؛ نو سمه لار يې موندلې او په رښتيا، زموږ په روايتونو کې هم متشابه شته؛ نو د قرآن حکيم په څېر، د محکم له لارې متشابه ته ځان ورسوئ او يوازې له متشابهو لاروي مه کوئ؛گنې بې لارې به شئ.))

# تأویل

تر صدر اسلام په تېره، تر څلورمې پېړۍ روسته، یوه مهمه وینه چې چې په مفسرانو او څېړونکیو کې اوځار وه،د تأویل علم دی، چې په دې باب بېلابېل نظریات اوځار شوي دي.

**تأویل؛ یعنې څه؟**

د تأویل په باب ډول ډول نظریات دي، چې موږ یې لاندې نظر راوړی دی:

د الفاظو باطن مفهوم ته تأویل وایي، چې د " اول" له کلمې څخه اخستل شوی دی.

تأویل؛ یعنې د یوه آیت مانا او مفهوم یې لومړني، بشپړ او واقعي مفهوم ته رسول دي.

## له تأویل ناوړګتنه

د یوه آیت حقیقي مفهوم ته د رسېدو لپاره وزلو ته اړتیا لرو او پردې سربېره، باید له غرض، تعصب، مادي ګټو او دنیاغوارۍ ډډه وشي.
د اسلام په لومړیو کې دوو ډلو د اسلام له تأویله ناوړګتنه کوله:
لومړۍ ډله: هغوی چې بسیا پوهه یې نه درلوده؛ خو ځانونه یې پوهان ګڼل؛ نوځکه د قرآن حکیم د تفسیر پرمهال تېروتل او پر کږه تلل.
دویمه ډله: هغوی چې بې له ناپوهۍ یې سیاسي او دنیوي موخې درلودې او د خپلو غوښتنو له مخې یې قرآن حکیم تفسیر او توجیه کاوه، چې د خوارجو او نهروان ډلې په دې شمېر کې دي.

## خوارج څوک وو؟

خوارج هغه مسلمانان وو، چې لمونځ، روژه، او ان د شپې لمونځونه یې نه قضا کول؛ خو په خواشینۍ، چې ناپوهه عابدان او ناپوهه زاهدان وو، چې تعصب او ځانمنۍ یې د بصیرت سترګې ړندې کړې وې او د پیغمبر اکرم صلی الله علیه وآله وسلم د خلیفه او ځایناستي د لاروۍ پرځای یې ځانونه د رای

خاوندان وګڼل، ځانونه یې د قرآن حکیم مفسران او تر ټولو غوره ګڼل او ددې بې لارې مسلمانانو خبره تردې راورسېده، چې حضرت علي (ک) یې پر بې لارۍ او له دینه پر وتو تورن کړ او له هغه یې وغوښتل، چې توبه وباسي، چې بالاخره ددې کوربوهه، بې عقله او دنیا غواړې ډلې کار دې ته راورسېد، چې په حضرت علي (ک) پسې راپاڅېدل او حضرت علي یې اړ ایسته، چې له ځانه د دفاع لپاره ورسره وجنګېږي او له هغوی یې څه نا څه څلور زره تنه ووژل؛ البته ددې خبرې یادول اړین دي، چې رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم، مخکې مخکې د داسې مغرضې ډلې له خطره خلک خبر کړي وو.

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وویل: ((علي! زه د قرآن حکیم د تنزیل لپاره جنګېږم او ته به د قرآن حکیم د تأویل لپاره جنګېږې.))

له تنزیله مطلب یې تحت الفظي او روښانه مانا ده.

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم الهي احکام خلکو ته تشریح کول؛ خو مشرکینو، کفارو او منافقینو ورسره نه منله؛ نوځکه پیغمبر اکرم، علي (ک) ته وویل: ستا په وخت کې به ډېر خلک مسلمانان وي او د الهي احکامو او اخلاقي چارو سره به ستونزه نه لري؛ خو یوه فرصت طلبه، سودجو، دنیا غواړې او

مغرضه ډله به آیتونه په خپله خوښه تأویلوي، چې ځینې خلک به هم له ځان سره بې لارې کړي.

## د تفسیر او تأویل توپیر

تأویل هغه ته وایي، چې پېچلتیا او ابهام پکې وي او د آیت ظاهري مفهوم، له باطن سره توپیر ولري او د ظاهر او باطن ترمنځ یې واټن وي او یوازې الله تعالی، پیغمبراکرم او په علم کې راسخون او اهلبیت د داسې آیتونو تأویل کولای شي.
خو تفسیر داسې نه دی؛ بلکې له قرآني علومو په ګټنه؛ لکه:
۱- شأن نزول.۲- له وحې سره اشنایي.۳- له محکم او متشابه سره اشنایي.٤- د قرآن حکیم پر ظاهر او باطن احاطه.۵- له عربي ادبیاتو سره اشنایي..... کولای شو، د آیت پر مفهوم پوه شو.
د لاندې آیت تفسیر او تأویل ته پام وکړئ:
(یخرج الحی من المیت)
د آیت لومړنی او ساده تفسیر داسې دی:
الله تعالی له مړیو ژوندي راباسي (لکه چورګوړی، چې له هګۍ راوځي)؛ خو د آیت تأویل داسې دی: الله تعالی د ځمکې له زړه (قبرونو) انسانان راپاڅوي او ژوندي به یې کړي، چې د حشر میدان ته راشي او کېدای شي، د آیت نور مفاهیم هم وي،

چې پر تأویل یې یوازې الله تعالی، پیغمبر اکرم، امامان او د بصیرت خاوندان پوهیږي.

## قرآن حکیم مو تفکر او تعقل ته رابولي

په قرآن حکیم کې ډېر داسې آیتونه شته چې اندنې، تعقل او تدبر ته مو رابولي؛ لکه:
((والکتاب والمبین انا جعلناه قرآن حکیم عربیا لعلکم تعقلون و انه فی ام الکتاب لدنیا لعلی حکیم =دا کتاب مو پر عربي درولیږه، چې تعقل او تدبر پکې وکړئ او د آیتونو مفهوم، په ام الکتاب کې له حکیم؛ الله تعالی سره دی.))
سره له دې، چې د ځینو آیتونو تأویل روښانه نه دی او حقایق یې الله تعالی ته معلوم دي؛ خو سره له دې ټولو خبرو، قرآن حکیم د ژوند کتاب دی او تل مو تفکر ته رابولي.
قرآن حکیم یو نه پوهېدون او نه حل کېدونې معما نه ده، چې څوک یې حل نه کړای شي. قرآن حکیم د ویلو، پوهېدو او عمل کولو کتاب دی.

## راسخون فی العلم څوک دي؟

«راسخون فی العلم» د نبوي کورنۍ امامان دي، چې د معارفو او الهي حقایقو سرچینې دي، چې د قرآن حکیم تأویل او تفسیر ورسره دی او دوی، الله تعالی په قرآن حکیم کې سپېڅلي ګڼلي دي.

((إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيراً[1]= بېشکه الله تعالی یوازې غواړي له تاسې((اهل البیت = نبوي کورنۍ)) چټلي او ګناه لرې کړي او بشپړ مو سپېڅلي کړي.))

((إِنَّهُ لَقرآن کریم. فِي كِتَابٍ مَّكْنُونٍ. لَّا يَمَسُّهُ إِلَّا الْمُطَهَّرُونَ = بېشکه چې هغه (قرآن) عزتمن لوستونی دی، (د الهي علم) په پټ کتاب کې دی، چې یوازې پاکان لاس وروړای او پرې پوهېدای شي.))

---

[1] (احزاب/۳۳)

**شپاړسمه زدکړه:**

## د قرآن حکیم سورتونه

په نهمو او لسمو زدکړو کې مو وویل، چې د قرآن حکیم سورتونه پر دوو برخو ویشل شوي؛ یعنې ۱- مکي.۲-مدني سورتونه.

**د اوږدوالي او لنډوالي له اړخ د قرآن حکیم سورتونه:**

د قرآن حکیم ځینې آیتونه اوږده او ځینې یې لنډ دي؛ د بېلگې په توگه: د قرآن حکیم تر ټولو اوږد سورت د البقره سورت دی، چې ۲۸٦ آیتونه لري او د قرآن حکیم لنډ سورتونه "والعصر، النصر او الکوثر دي، چې هر یو درې آیتونه لري.

اهل فن د سورتونو د لنډوالي او اوږدوالي په پامنیوي، د قرآن حکیم سورتونه څلور برخې کړي دي.

۱- سبع الطول (اوه اوږده سورتونه):

د قرآن حکیم اوه سورتونه؛ لکه: ۱-بقره.۲-آل عمران.۳-نساء.٤-مائده.۵- اعراف.٦-انعام او اعراف اوږده سورتونه دي.

۲- سور المثالي (نه اوږده او نه لنډ سورتونه):

دا سورتونه نه د بقرې او آل عمران په څېر اوږده او نه د والعصر او کوثر په څېر لنډ دي؛ بلکې منځومال دي او ډېر خلک همدا سورتونه په خپلو لمونځونو کې وايي.

۳-سور المضعلات (لنډ سورتونه او د فصل سورتونه)

داسې سورتونه، په قرآن حکیم کې د فصل فصل په بڼه لیدل کیږي.

## د قرآن حکیم د سورتونو په باب توضیح

**حوامیم:**

د قرآن حکیم ځینې آیتونه په (حم) پیل شوي، چې دې سورتونو ته "حوامیم" ویل کیږي.

**(الف، لام، میم):**

هغه سورتونه، چې په (الف، لام، میم) پیل شوي وي، د(الف، لام، میم) سورتونه ورته ویل کیږي، چې دادي:

۱- بقره.۲-آل عمران.۳-اعراف.٤-عنکبوت.۵-روم.لقمان او سجده.

**مسبحات:**

هغه سورتونه، چې پر (سبح) او یا (یسبح) پیل شوي، (مسبحات) ویل ورته کیږي، چې دادي:

۱-اسراء.۲-حدید.۳-حشر.٤_صف. ٥- جمعه.٦- تغابن.۷-اعلی.

(الف، لام ، را) سورتونه:

۱-یونس.۲-هود.۳-یوسف.٤-رعد.٥- ابراهیم.٦-حجر.

**غدایم سورتونه:**

هغه سورتونه، چې واجبه سجده لري: ۱-سجده.۲-فصلت.۳-علق.٤-نجم.

په دې سورتونو کې مو چې له آیت سره د سجدې ټکی ولید؛ نو باید سجده یې پرځای کړو.

**څلور قل سورتونه:**

په قرآن حکیم کې څلور سورتونه دي ، چې د (قُل) په کلمه پیل شوي، چې د "څلورقُل"سورتونه ورته ویل کیږي، چې دادي: ۱-کافرون.۲-توحید.۳- فلق.٤-ناس.

**طواسین سورتونه:**

هغه سورتونه، چې په پیل کې یې "طس" یا "طسم" راغلي وي، چې دادي: ۱- شعراء.۲- نمل.۳-قصص.

**معوذتین سورتونه:**

د "فلق" او "ناس" سورتونه پر "قل اعوذ" پیل شوي، چې معوذتین ورته ویل کیږي؛ یعنې انسان ددې سورتونو په ویلو له الله تعالی پناه غواړي.

**اوولسمه زدکړه:**

## ناسخ و منسوخ

د قرآن حکیم پر ناسخ و منسوخ آیتونو پوهېدنه، په قرآن پوهنه کې خورا ونډه لري.

**د ناسخ و منسوخ مانا:**
که د قرآن حکیم په آیتونو کې اندنه وشي؛ نو داسې آیتونه به ومومو، چې نور آیتونه یې "نسخ" کړي او د هغه پخوانی حکم یې یا بدل کړی او یا یې له منځه وړی او نوی حکم یې د هغه ځایناستی کړی، چې په داسې وخت کې، هغه آیت ته چې حکم یې منسوخ یا بدل شوی او پرځای یې یو بل حکم راغلی وي، "منسوخ" او نوي آیت ته چې پخوانی حکم یې نسخ کړی، "ناسخ" وایي.
لاندې مثالونو ته پام وکړئ:
۱-له بیت المقدس نه کعبې ته د قبلې اوړېدل
((قَدْ نَرَى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاء فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَحَيْثُ مَا كُنتُمْ فَوَلُّواْ وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ وَإِنَّ الَّذِينَ أُوْتُواْ الْكِتَابَ لَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ الْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ وَمَا

اللّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا يَعْمَلُونَ[1]= په يقين، (د روستۍ قبلې د ټاکلو لپاره) موږ د اسمان خوا ته ستا بيا بيا مخ اوښتل وينو! دا دی موږ تا د هغې قبلې لوري ته گرځوو، چې ستا خوښېږي (نو د مسجدالحرام خوا ته مخ وگرځوه او چېرې چې وئ، مخ هماغې لوري ته واړوئ او په حقيقت کې چا ته چې اسماني کتاب ورکړ شوی، ښه پوهېږي، چې(د قبلې بدلېدل)، د الله تعالی له لوري (پرځای او) سم دي او په خپلو کتابونو کې يې لوستي، چې د اسلام پیغمبر به دوو قبلو ته لمونځ کوي او الله تعالی (ددې آيتونو په پټولو کې)، له کړنو يې ناخبره نه دی.))

د مسلمانانو لومړۍ قبله "بيت المقدس" و؛ يهودانو او د پيغمبر اکرم صلی الله عليه وآله وسلم دښمنانو، پيغمبر اکرم ته پيغورونه ورکول، چې تاسې مسلمانان قبله نه لرئ او مجبور ياست، زموږ د قبلې پر لوري لمونځ وکړئ، چې پيغمبراکرم دې پيغورونو خورا خپه کړ. الله تعالی ددې آيت په رالېږلو، قبله له بيت المقدسه، کعبې ته راواړوله او په قرآني اصطلاح، په هغه آيت

[1] (بقره/١٤٤)

کې چې بیت المقدس پکې قبله معرفي شوې وه، منسوخ شو او دا آیت، چې نوی حکم یې راوړی، ناسخ دی.

۲- د ښځې د عدت د وخت بدلېدل، چې له یوه کاله، څلورو میاشتو او لسو ورځو ته راټیټه شوه.

((وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا وَصِيَّةً لِّأَزْوَاجِهِم مَّتَاعًا إِلَى الْحَوْلِ غَيْرَ إِخْرَاجٍ فَإِنْ خَرَجْنَ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِي مَا فَعَلْنَ فِيَ أَنفُسِهِنَّ مِن مَّعْرُوفٍ وَاللّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ[1]= او له تاسې چې څوك ومري او کونډې ترې پاتې شي، هغوی باید خپلو کونډو ته دا وصیت وکړي، چې تر یوه کال پورې دې د هغوی لګښت ورکړ شي، په دې شرط، چې هغوی ( د مېړه له کوره) و نه وځي (او بل واده و نه کړي) او که (په خپله خوښه) ووتې (نو پر تاسې د لګښت حق نه لري؛ خو هغوی چې) د خپل ځان په برخه کې په ښه توګه هر څه کوي، پر تاسې یې ګناه نشته او الله تعالی ناماتی حکیم دی.))

د بقرې سورت د ۲٤۰ آیت د څرګند نص له مخې، د هغې ښځې، چې مېړه ومړ؛ نو تر یوه کاله بل مېړه نشي کولای؛ خو په

[1] (بقره/۲٤۰)

همدې آيت کې (بقره/۲۳٤) کې د ۲٤۰ آيت حکم نفې شو او له يوه کاله، څلور مياشتې شو. اړوند آيت ته پام وکړئ:
((وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا فَعَلْنَ فِي أَنفُسِهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَاللّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ[1]= او له تاسې چې څوك مړه شي او کونډې يې پاتې وي؛ نو بايد څلور مياشتې او لس ورځې ( په عدت کې ) تېرې کړي؛ خو که دا موده يې پوره کړه؛ نو بيا پر تاسې گناه نشته، چې که څه غواړي، هغوی دې په خپله خوښه په ښه توگه وکړي (او د خپلې خوښې له سړي سره دې واده وکړي) او الله تعالی ستاسې له کړنو خبر دی.))
۳- د شپې فرض لمونځ، مستحب شو
د زمر د لومړيو آيتونو له مخې، د شپې لمونځ پر پېغمبر اکرم او نورو مؤمنانو فرض و؛ خو د همدې آيت په پای کې (۲۰ آيت) الله تعالی دا لمونځ مستحب کړ، وايي: چې څومره او د شپې په هر وخت کې مو چې خوښه وه؛ لمونځ وکړئ.
٤-د نجوا حراموالی او د صدقې ورکول

[1] (بقره/۲۳٤)

قرآن کريم له پیغمبر اکرم سره نجوا او په غوږ کې خبرې، چې پیغمبر اکرم به يې زوراوه او د مسلمانانو په منځ کې يې د نااعتمادۍ فضا رامنځ ته کوله، حرامه کړه او داچې ځينو نجواوو او پسپسکيو ته اړتيا وه او پیغمبر اکرم بايد د جګړې په باب ځينې چارې په غوږ کې ورسره وکړي؛ نو الله تعالی پخوانی حکم (مجادله/۱۲) له منځه يووړ، و يې ويل: که څوک له رسول الله سره نجوا کول غواړي، بايد صدقه ورکړي. پخوانی حکم، چې نجوا پکې حرامه وه، نسخ شوه او د صدقې ورکولو حکم يې پرځای راغی.

۵-له کتابيانو سره د سوليز چلن حکم يې پر وژلو بدل شو

د بعثت په پيل کې، الله تعالی د ځينو مصلحتونو په پامنيوي، خپل استازي ته حکم وکړ، چې له کتابيانو (يهود او نصاراوو) سره سوليز چلن ولري؛ خو په اوسنيو شرايطو کې چې هغوی د مسلمانانو پرخلاف دسيسې کوي؛ نو الله تعالی د يو آيت په رالېږلو، يو نوی حکم وکړ، چې وايي: که هغوی، هغه څه چې الله تعالی او رسول يې حرام کړي، حلال وګڼي او جګړې ته درسره ملا وتړي؛ نو تاسې هم جګړه ورسره وکړئ او د حق دين منلو ته يې اړ کړئ او که داسې يې و نه کړل؛ نو و يې وژنئ.))

## د نسخ ګټې

کله پوښتنه ذهن ته راځي، چې ولې الله تعالی خپل ځينې احکام پرېکنده او ثابت کړي نه دي، چې نوي حکمونو ته پکې اړتيا نه وي؛ نو په احکامو کې دا دوه ګوني د څه لپاره ده؟
ځواب: داچې پالونکی څښتن د ټولو موجوداتو ښوونږ دی او ټول موجودات، د کمال پر لوري بيايي او د هستۍ تر ټولو بشپړ موجود هم بايد په دې بهير کې حرکت وکړي او هره شېبه د تکامل او روزنې لار ووهي.
اسلام د خلکو د روزنې او لارښوونې لپاره راغلی، چې د اسلام ځينې موضوعات په ګروهو، زړه او عقل پورې اړوند دي، چې له ټولنيزو پېښو سره هېڅ تړاو نه لري او تل يې ډېر خلک مني، چې هر وخت پر يوه بڼه ابلاغ شي او حکم يې ثابت او قطعي دی.
خو عبادتونه، معادلې، شرعي احکام او ټولنيزې چارې، د وخت او په ټولنه کې د پېښو تابع دي او الله تعالی هم ددې ټولنيزو شرايطو په پامنيوي، خلکو ته لارښوونه کوي؛ نو الهي احکام، د اصلاح او روزنې لپاره، د نوون او د زماني شرايطو په پامنيوي صادرېږي؛ لکه څنګه چې انسانان د خپل ژوند په بېلابېلو پړاوونو کې، بېلابېلې غوښتنې لري؛ نو ټولنه هم په هر وخت کې

له هماغه وخت سره سم، د روزنې او سمونې لپاره، قوانینو ته اړتیا لري.

روستۍ خبره داچې د آیتونو ناسخ او منسوخ والی، د ټولنې د سمونې او روزنې لپاره دي؛ ځکه یو حکم تللی او پرځای یې بل راغلی او د الله تعالی ټولې چارې، د حکمت له مخې دي.

# د قرآن حکیم موضوعات

قرآن کریم ۱۱٤ سورتونه لري، چې پر "حمد" پیلېږي او پر "ناس" پای ته رسي. په ټول کې، قرآن شریف، **٦٦٦٦** آیتونه لري، چې هر آیت یې د یوې موضوع په باب خبرې کوي.
د قرآن حکیم له موضوعاتو سره آشنایي، په قرآنپوهنه کې خورا مرسته کوي؛ په تېره، د خپلې اړتیا د موضوع په ټاکنه کې او داچې قرآن حکیم په خپله هم وایي: (تبیان لکل شیءٍ) په دې کتاب کې د انسان ټولې غوښتنې او علمونه دي او انسان کولای شي، پر موضوعاتو تر پوهېدو روسته، خپلې غوښتنې په قرآن حکیم کې راپیدا کړي؛ نو دلته مو هڅه کړې، د قرآن حکیم ټولیز موضوعات راوړو او ځینې آیتونه، چې په بېلابېلو سورتونو کې له لږ توپیر سره راغلي؛ خو ګډ مضامین لري، موږ یې نه یادوو او که د قرآن حکیم د موضوع راوړو ته مو له موضوع سره اړوند آیت هم راوړی وای؛ نو ګران لوستونکي ته به ستړې کوونکې وي؛ نوځکه مو یوازې د قرآن حکیم ټولیز موضوعات راوړي دي:

۱- د اسلام گروهیز آرونه.۲-توحید.۳-نبوت.٤-معاد.۵-مشري او امامت.٦- انسان پنځونه.۷-د روژې احکام.۸-وصیت.۹-اعتکاف. ۱۰-د پلارمړي مال نه خوړل.۱۱- حضرت عمران.۱۲-د احد غزا.۱۳-د اسلام د شهیدانو غوراوی.١٤-د دین په لار کې زغم او صبر.۱۵-د ښځمنو چارې.۱٦-ارث.۱۷-د ښکار شرعي احکام. ۱۸-د ځمکې پر مخ د ورانکاریو په باب احکام.۱۹- د اوداسه احکام.۲۰- د لمانځه احکام.۲۱-د غسل احکام.۲۲-د تیمم احکام.۲۳- شرک نه کول.٢٤-د بېوزلۍ له وېرې، اولاد نه وژل.۲۵- له موروپلار سره نېکي.۲٦- انسانان نه وژل.۲۷-عدالت پلي کول.۲۸- پر ژمنه درېدل.۲۹- له سیده لار لاروي.۳۰-عامې شتمنۍ. ۳۱-غنیمت.۳۲- له مشرکینو بې زاري او ورسره د اړیکو پرېکون.۳۳- الهي ځواک.۳٤- د پېغمبرانو: حضرت نوح، حضرت عیسی، حضرت یونس، حضرت هود، حضرت عاد، حضرت صالح، حضرت صالح، حضرت ثمود، حضرت شعیب، حضرت لوط، حضرت یوسف، حضرت ابراهیم، حضرت اسماعیل، حضرت یحیی، حضرت زکریا، حضرت یعقوب، حضرت خضر، حضرت سلیمان، حضرت داود، حضرت آدم، حضرت الیاس او آل یاسین کیسې.۳۵-معاد او د قیامت ورځې پېښې.۳٦-د قیامت ورځې جزا.۳۷- د ظالمانو عاقبت.۳۸- ایمان. ۳۹- د الله تعالی ایکي یو والی.٤٠- د بني

اسرائیلو کیسه.٤١- د اصحاب کهف کیسه.٤٢- د یاجوج ماجوج او ذوالقرنین کیسه.٤٣- حجاب. ٤٤- د زنا او لواط په باب احکام.٤٥- د متواضعو بندگانو احوال.٤٦-پر پیغمبر ایمان نه راوړل.٤٧-الهي سنتونه.٤٨- د شیطان سرغړونه. ٤٩-د قیامت پر ورځ د کافرانو حالات.٥٠-د جنتیانو حالات.٥١- له بندگانو الهي ازمېینه.٥٢-پوښتې.٥٣-د دوزخ عذاب.٥٤- د قیامت پر ورځ د انسان د غړیو گواهي او لیدنه.٥٥- د حضرت محمد صلی الله علیه وآله وسلم رسالت. ٥٦-ځمکه، اسمانونه او فصلي بارانونه.٥٧-مرگ.٥٨- د مړیو راژوندي کېدل.٥٩- کرنلیک.٦٠- د مسلمانانو بری.٦١- د پیغمبر اکرم په اړه آداب.٦٢-د پیغمبراکرم مېرمنې.٦٣- د الله تعالی قسمونه.٦٤-د کافرانو رټنه.٦٥- د حضرت محمد معراج.٦٦-د الهي نعمتونو یادونه.٦٧- نجوا.٦٨- صدقه.٦٩- منافقان.٧٠-حواریون.٧١- د جمعې لمونځ.٧٢-د تقوا سپارښتنه.٧٣- الله تعالی ته د موجوداتو تسبیح.٧٤- قرض الحسنه.٧٥-واده او د طلاق احکام.٧٦- له دینه منکران.٧٧- پیریان.٧٨-وحې.٧٩- کوډې.٨٠-فرعون.٨١- جبرائیل.٨٢-د قیامت پر ورځ د سپوږمۍ او لمر نیول.٨٣-د قیامت د راښکاره کېدو نښې.٨٤-کرام الکاتبین.٨٥-د پیغمبراکرم مخالفان.٨٦- مطمئنه نفس.٨٧-د جنت ښونه.٨٩- له مؤمنانو د الله تعالی خوښي.٩٠- د حضرت صالح اوښه.٩١- د قرآن حکیم

نزول.۹۲-د قدر شپه.۹۳-شتمني پال کافران.۹٤-د فیل اصحاب.۹۵-د ابابیل مرغی.۹٦-کوثر.۹۷- پر ابولهب لعنت.۹۸- د الله تعالی صفات.۹۹- خلک (ناس).۱۰۰. پر نېکیو امر او له بدیو منع.

**نولسمه زدکړه:**

# قرآني کیسې

د قرآن حکیم د ځینو آیتونو د موضوع یوه برخه کیسې دي، چې د انسان په سمونه او لارښوونه کې ونډه لري او اصولاً قرآني کیسې، د بشر د عبرت او زدکړې لپاره راغلي دي.

*قرآن حکیم د کیسو کتاب نه دی؛ خو...

قرآن حکیم د کیسو کتاب نه دی؛ خو داچې دا کیسې انسان ته گټورې او عبرت ترې اخستی شي؛ نو الله تعالی هم دا کیسې په قرآن حکیم کې راوړي او ډېری هغه پېښې دي، چې پخوا تېرې شوي، چې له راوړو یې موخه انسان ته د حقایقو لارښوونه او عبرت ښوول او د پخوانیو انسانانو پر حالاتو ځان پوهول دي.

دا کیسې د انسان له مخې د غفلت پردې لرې کوي، چې په خپله قرآن حکیم ددې کیسو د ویلو موخه داسې ښوولې ده:

((نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ أَحْسَنَ الْقَصَصِ بِمَا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ هَـذَا الْقرآن حكيم وَإِن كُنتَ مِن قَبْلِهِ لَمِنَ الْغَافِلِينَ[1]= موږ درته په دې وحې شوي قرآن حکيم کې ښې قيصې (او د قيصو دود) وايو او بېشکه چې مخکې ترې له ناخبرو وې))

له آيته لاندې مهم ټکي جوتېږي:

١ _ قرآني کيسې تر ټولو غوره دي.

٢ _ په قرآني کيسو کې د ښخوانيو حالات راغلي دي.

٣ _ قرآني کيسې له واقعيته لرې او خيال نه دي؛ بلکې الهي وحې ده.

٤ _ قرآني کيسې موږ له بې خبرۍ راباسي.

٥ _ د قرآن حکيم کيسې عبرت دی او روښانه راتلونکي ته يو ځلنده څراغ دی.

[1] (يوسف/٣)

## د قرآني کیسو په باب د ډاکټر فلیپ څرګندونه

ډاکټر فلیب یو نامسلمان عالم دی، چې په خپل کتاب (تاریخ عرب) کې یې د قرآني کیسو په باب ویلي دي:
داچې قرآن حکیم، کیسې او د پیغمبرانو تاریخ رانقل کړی، موخه یې داده، چې خپل لارویان په اخلاقي او علمي عبرت پورې ونښولي، چې له دې کیسو، د قرآن حکیم مطلب، داستان او افسانه ویل نه؛ بلکې غواړي، لوستونکي یې د معنویت پر لوري رهبري کړي او په پند او ادیبانه عبرت یې انساني ستر مقام ته ورسوي او ګورو، چې په دې کې یوه سپېڅلې موخه پټوي، چې په پخوا زمانه کې هم الله تعالی نېکو خلکو ته انعامونه او بدچاریو ته عذابونه ورکړي دي.
*کیسه د پیغام لیږلو غوره لار ده:
د فصاحت او بلاغت له آرونو څخه یو دادی، چې انسان خپل پیغام او مطلب، په ساده توګه خلکو ته ورسوي؛ یعنې انسان کولای شي، یوه لار وټاکي، چې پرې ښه او اسان، خپل پیغامونه خلکو ته ورسوي، چې د دې خبرې د علمي کېدو لپاره ډېری لارې شته ، چې ځینې یې دادي:
۱ _ شعر. ۲ _ انځور ۳ _ موسیقي ٤ _ سینما ۵ _ تیاتر ٦ _ لیک ۷ _ وعظ او خبرې ۸ _ ننداره او ۹ _ کیسه، چې کیسې خلکو ته

د پیغام رسولو غوره لار ده او دا یوازینی لار ده، چې ډېری خلک په اسانی ګټنه ترې کولای شي.
قرآن حکیم هم له ټولو اغېزمنو وزلو، خپل پیغام رسونې ته ګټنه کړې او د قرآن حکیم آیتونه هم، چې په ځانګړې خوږلني ویل شوي، پر لوستونکي یې هم ځانګړی اغېز دی.
د قرآن حکیم ځینې آیتونه د کیسو او یا د یوې ننداري په بڼه، په ماهرانه توګه د لوستونکي په ذهن کې انځورېږي او ځینې نور آیتونه هم د کیسو په ویلو، نني انسانان، د پخوانیو انسانانو د ماتو او بریو پر خواله پوهوي؛ نو ویلای شم، چې قرآني کیسې د پخوانیو خلکو د ماتو او بریاوو د خوالې پر پوهېدو یو مهمه لار ده.
قرآني کیسې د پخوانیو د تاریخ یوه برخه ده او د پخوانیو تاریخ هم د روښانه راتلونکي لپاره، د لارې یو مشال دی، چې الله تعالی انسان ته په لاس کې ورکړی دی.

## د قرآني کیسو شمېر

په دې باب څېړنو راښوولې، چې په قرآن حکیم کې تقریبا سل کیسې راغلې، چې د انبیاوو، بدچاریو، نېکچاریو، هېوادونو، عذابونو، سرباندې پېښو، د قومونو سرغړونه، جګړو، بوتانو، د

عجیبو او غریبو پېښو په باب ( لکه د اصحاب کهف، اصحاب فیل ) او هېښنده پېښې؛ لکه اصحاب کهف او اصحاب فیل یې په ځانګړې خوږلني ویلي او ددې کیسې په ویلو، انسان هم خوند اخلي او هم عبرت!

## د قرآني کیسو څو بېلګې

**د حضرت آدم علیه السلام کیسه:**

په قرآن حکیم کې یوه کیسه، د حضرت (آدم او حوا) په باب ده او د قرآني آیتونو په رڼا کې، حضرت آدم ته ۱ _ ابوالبشر ۲ _ خلیفة الله ۳ _ معلم الاسماء هم ویل کېږي. حضرت آدم لومړی تن و، چې الله تعالی له خاورې وپنځاوه او پر ځمکه یې خپل خلیفه کړ. حضرت آدم او حوا څه وخت په جنت کې ول، چې بیا شیطان تېرایستل او الله تعالی هم له جنته راوایستل.

**د حضرت ابراهیم علیه کیسه:**

حضرت ابراهیم علیه السلام تر حضرت نوح علیه السلام روسته دویم ستر او اولوالعزم پیغمبر دی. حضرت ابراهیم پر "خلیل الله"، "خلیل الرحمان" او "ابوالانبیاء" هم مشهور دی. د هغه د

وخت ظالم او بې ایمانه پاچا به تل، له حضرت ابراهیم سره مبارزه او مخالفت کاوه، چې بالاخره حضرت ابراهیم د بوتانو ماتولو له لامله په اور کې واچول شو، چې د الله تعالی په امر، اور حضرت ابراهیم ته پر ګلبڼ بدل شو.
یوه ورځ حضرت ابراهیم، د الله تعالی په حکم، خپل زوی حضرت اسماعیل او د یوې وینا له مخې، حضرت اسحاق قربانۍ ته یووړ، چې قرباني او بلهار یې کړي او دا چار یې کاوه، چې الله تعالی یو پسه ور ولېږه، چې د حضرت اسماعیل پرځای دې یې قرباني کړي.
ددې ستر الهي پېغمبر له ویاړنو څنې، د کعبې جوړول دي.
حضرت ابراهیم د فلسطین په الخلیل ښار کې ښخ دی.

**د ابلیس کیسه:**
د قرآن حکیم یوه کیسه، د ابلیس یا شیطان په باب ده، چې یو هېښنده غیبي مخلوق دی. ابلیس له پیریانو څنې دی او د الله تعالی له حکمه یې سرغړونه وکړه، چې ورته یې ویلي وو، آدم ته سجده وکړه او الله تعالی هم د سرغړونې له لامله، له خپل درشله وشړه. ابلیس قسم وخوړ، چې د قیامت تر ورځې به انسانان له سیده لارې کږوي؛ خو الله تعالی وویل: ته به زما مخلص او نېره بندګان ونشې غولولای.

د ابلیس نامه په قرآن حکیم کې په یوولسو ځایونو کې راغلې ده.

**د ابولهب کیسه:**

د ابولهب آریز نوم (عبدالعزی)؛ یعنې د بوت بنده و. د پېغمبر تره او د عبدالمطلب یو زوی و. د اسلام او حضرت محمد له سرسختو دښمنانو څخه و. چې کله پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم خپلوانو ته مېلسمتیا کړې وه او خپلوان یې دین ته راوبلل؛ نو ابولهب نه یوازې ایمان را نهووړ؛ بلکې پر پېغمبر اکرم صلی الله علیه وآله وسلم یې ملنډې ووهلې او د عمر تر پایه یې له پېغمبر اکرم سره دښمني وکړه؛ الله تعالی د قرآن حکیم په "مسد سورت" کې لعنت پرې ویلی: تبت یدا ابی لهب و تب؛ یعنې د ابولهب لاسونه دې مات وي، چې پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم کړوي او کنځلې ورته کوي.
له دې آیته زدکړه کېږي، چې کچه او معیار، پر الله تعالی ایمان او صالح عمل دی؛ نه د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم تره والی.

**د حضرت ادریس کیسه:**

د حضرت ادریس (پېغمبر) نامه په قرآن حکیم کې دوه ځل راغلې او په تورات کې یې نامه (افنوخ) دی.

حضرت ادریس لومړی تن و، چې په قلم یې لیکل پیل کړل، درزي توب یې وکړ او الله تعالی هم د نجوم او حساب علم ور وښود.

**د اصحاب السبت کیسه:**

سبت؛ یعني د شنبې ورځ: اصحاب سبت؛ یعني د شنبې ورځې یاران او کیسه یې داسې وه:

الله تعالی یهودان، د شنبې پر ورځ د کبانو له ښکاره منع کړي ول؛ نوځکه به د شنبې پر ورځ په اوبو کې خورا زیات کبان راټولېدل، د یهودانو ماغزو ته هم شرعي چل ورغی، داسې چې هغوی، د اوبو ډنډونه جوړ کړل او د شنبې پر ورځ به یې ددې ډنډونو پر لوري اوبه بهولې، چې ډېر کبان به په ډنډونو کې راټولېدل او یهودانو به بله ورځ، د کبانو ښکار کاوه او ویل یې: دا ښکار خو مو د شنبې پر ورځ نه دی کړی، چې گناه مو پرغاړه شي. الله تعالی هم ددې شرعي چل او سرغړونې له لامله پر عذاب کړل.

**د جالوت کیسه:**

د جالوت آریز نوم (جلیات) دی. هغه د فلسطین یو غښتلی پهلوان و، چې حضرت داود علیه السلام وواژه. جالوت له فلسطینانو سره څلور ورځې وجنګېد او خپل ټول سیالان یې وځپل، چې بالاخره، حضرت داود علیه السلام په یوه ساده وسله (چپنډه) وواژه.

**د سامري کیسه:**

سامري د حضرت موسی علیه السلام ترورزوی و، چې د فرعون تر هلاکېدو روسته یې د حضرت جبرائیل د پښې خاورې راواخستې؛ ځکه پوهېده دا خاورې هېښنده اغېز لري او د یوه مناسب وخت په تمه و، چې یو سربانډې چار پرې وکړي. حضرت موسی ، چې د سینا غره ته ولاړ او څه موده له خپل قوم سره نه و؛ سامري هم له هغو کاڼو او سرو زرو، چې له بني اسرائیلو یې په غنیمت کې نیولي ول، یو خوسکی جوړ کړ، چې غبر او حالت یې د یوه ژوندي خوسکي په څېر و او داسې یې ښوول، چې الله تعالی د دې خوسي په بڼه راغلی؛ له دې لارې یې خلک پر ځان راټول کړل؛ خلکو هم دې خوسي ته سجده وکړه او پر عبادت یې بوخت شول.

حضرت موسی علیه السلام، چې له سینا غره راستون شو او دا هر څه یې ولیدل؛ نو سامري ته یې ښېرې وکړې او سامري پر ډېر بد حال شو، ټول بني اسرائیل ترې کرکجن شول، حضرت موسی د سامري خوسی په اور کې وسوځاوه او ایرې یې والوځولې.

**د لات کیسه:**

لات د بوتنمانځیو د یوه ستر بوت نوم و، چې نامه یې په قرآن حکیم له (عزی) سره راغلې ده.

پیغمبر اکرم صلی الله علیه وآله وسلم د مکې تر سوبې روسته، ابوسفیان او مغیره بن شعبه ته، چې د بوتنمانځو مشران وو، حکم وکړ، چې بوتان مات او دړې وړې کړي.

**د حضرت مریم کیسه:**

په قرآن حکیم کې، د حضرت مریم نامه **٣٤** ځل راغلې، چې د حضرت عیسی مور او د حضرت عمران لور وه، حضرت مریم د مسیحیت د دین یوه ستره میرمن ده، چې مسلمانان یې هم ډېر درناوی کوي.

**شلمه زدکړه:**

## په قرآن حکیم کې فقهي احکام

قرآن حکیم ټولو دردونو ته د شفا نسخه ده او د انسان ټولو غوښتو ته یې په ټولو برخو کې مناسب ځواب ورکړی او قرآن حکیم ته ځکه نړیوال او د ټولو وختونو کتاب ویل کیږي، چې د انسان ټولو غوښتنو ته ځواب ورکولای شي.
په اتلسمه زدکړه کې مو په لنډه، د قرآن حکیم تقریبا سلو موضوعگانو ته اشاره وکړه، چې یوه موضوع یې هم احکام دي، چې الله تعالی، پر دې احکامو د عمل حکم راکړی دی.

## احکام څه ته وایي؟

د اسلام د سپیڅلې شرع په څرگندنه- اصطلاح، احکام ټولو هغو دستوراتو او قوانینو ته ویل کیږي، چې الله تعالی له مسلمانانو عمل پرې غوښتی دی.
شرعي احکام هم هماغه دیني دستورات دي، چې هر عاقل، بالغ او مکلف مسلمان چې د تکلیف عمر ته ورسېد؛ باید عمل پرې وکړي.

هر دين خپل قوانين او دستورات لري، چې بايد لارويان يې عملي کړي او بې قانونه دين بشپړ نه دی.

اسلام هم د احکامو په ټاکلو ( عملي قوانين او دستورات) مسلمانان، د تکامل په بهير کې اچولي، چې ددې احکامو په عملي کولو، د الله تعالی خوښي لاس ته راوړي.

د قرآن شريف يو سورت هم پورتنۍ موضوع ته اشاره کړې او په والعصر سورت کې وايي:

((وَالْعَصْرِ.إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ. إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ = پر زمانې قسم! بېشکه (هر) انسان په زيان کې دی؛ خو بې له هغوی چې ايمان يې راوړی او ښه (کارونه) يې کړي او يو بل ته يې په حق سپارښتنه او په زغم سپارښتنه کړې وي.))

## د احکامو له آیتونو سره آشنایي

**۱ ـ لمونځ کول او زکات ورکول:**

((وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ وَارْكَعُواْ مَعَ الرَّاكِعِينَ[۱] = او لمونځ (په ښه شان) وکړئ او زکات ورکړئ او له رکوع کوونکیو سره رکوع وکړئ (او لمونځ په جماعت وکړئ)))

**۲ ـ پر نېکیو امر او له بدیو منع:**

((وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَأُوْلَـئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ[۲]= او باید ستاسې له منځه یوه ډله وي، چې (خلك) نېکیو ته راوبولي او پر ښو چارو ورته امر وکړي او له بدیو يې راواړوي او همدغه بریالي دي.))

**۳ ـ له محارمو سره واده، حرام دی:**

((وَلاَ تَنكِحُواْ مَا نَكَحَ آبَاؤُكُم مِّنَ النِّسَاء إِلاَّ مَا قَدْ سَلَفَ إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَمَقْتًا وَسَاء سَبِيلاً[۳]= او له کومو ښځو سره، چې ستاسې پلرونو واده کړی وي؛ هېڅکله واده و نه کړئ؛ خو څه چې

---

[۱] (بقره/٤٣)

[۲] (آل عمران/١٠٤)

[۳] (نساء/٢٢)

(ددې حکم تر نازلېدو) مخکې شوي، هغه شوي؛ ځکه دا بدلمني، کرکجن چار او ناسمه لار ده.))

**٤ _ د اودس کولو طریقه:**

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلاةِ فاغْسِلُواْ وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُواْ بِرُؤُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَينِ وَإِن كُنتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُواْ وَإِن كُنتُم مَّرْضَى أَوْ عَلَى سَفَرٍ أَوْ جَاء أَحَدٌ مَّنكُم مِّنَ الْغَائِطِ أَوْ لاَمَسْتُمُ النِّسَاء فَلَمْ تَجِدُواْ مَاء فَتَيَمَّمُواْ صَعِيدًا طَيِّبًا فَامْسَحُواْ بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُم مِّنْهُ مَا يُرِيدُ اللّهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُم مِّنْ حَرَجٍ وَلَـكِن يُرِيدُ لِيُطَهَّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ[1]= مؤمنانو! لمانځه ته چې پاڅېدئ؛ نو خپل مخونه او لاسونه تر څنګلو پورې ووينځئ او سرونه (مسح کړئ) او پښې تر(پړکيو) پورې مسح کړئ او که په جنابت کې یاست؛ نو( په غسل کولو) ځان پاك کړئ او که رنځور یا مسافر یاست او یا له تاسې څوك له اودسماتي راشي یا تاسې پر ښځو لاس لګولی وي (او کوروالی مو کړی وي) او (د غسل یا اوداسه لپاره) اوبه و نه مومئ؛ نو پر پاکه خاوره تیمم وکړئ او پر مخ و لاس یې

[1] (مائده/٦)

راکاږئ، الله تعالی تاسې تنګول نه غواړي؛ بلکې غواړي پاك مو کړي او خپله لورنه درباندې پوره کړي. ښايې شکر يې پرځای کړئ.))

**٥ _ د کفارو او مشرکينو پر جنازه، لمونځ مه کوئ:**

((وَلاَ تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِّنْهُم مَّاتَ أَبَدًا وَلاَ تَقُمْ عَلَىَ قَبْرِهِ إِنَّهُمْ كَفَرُواْ بِاللّهِ وَرَسُولِهِ وَمَاتُواْ وَهُمْ فَاسِقُونَ[١]= او بيخي پر يوه مړي يې هم (د جنازې) لمونځ مه کوه او مه يې ( د دعا او ښښنې لپاره) پر قبر درېږه؛ ځکه هغوی پر الله تعالی او پېغمبر يې کافران شوي او په سرغړاندۍ کې مړه شوي.))

[١] (توبه/٨٤)

## قرآن حکيم د احکامو پېژندو معيار دی

ددې آيتونو يوه غوره ځانګړنه داده، چې مدني دي او دا سورتونه د شرعي احکامو په باب نازل شوي دي.
او پردې احکامو د پوهېدنې لپاره لاندې وزلې په کار دي او بايد د فقهې په علم کې هم پوهه ولرو، چې پر الهي احکامو پوه شو.
۱ _ قرآن حکيم. ۲ _ سنت. ۳ _ عقل يا قياس. ٤ _ اجماع.

یوویشتمه زدکړه:

## په قرآن حکیم کې قیامت

په قرآن حکیم کې د نورو موضوعگانو په پرتله، دا موضوعگانې ډېرې اوڅار شوې دي:
١ _ توحید. ٢_ معاد. ٣ _ نبوت. ٤ _ ایمان. ٥ _ مشرکان. ٦ _ مؤمنان. ٧ _ د تېرو قومونو برخلیک. ٨ _ د آخرت ورځې سزا او بدله. ٩ _ نېکچاري. ١٠ _ اندنې ته بلنه، چې په دې موضوعگانو کې د معاد یا قیامت پر ورځ، د الله تعالی پر امر د انسانانو راژوندي کېدل او ورسره حساب و کتاب کول، ځانگړی ارزښت لري او په قرآن شریف کې هم په دې باب گڼل شمېر آیتونه راغلي دي.

## په قرآن حکیم کې د معاد آیتونه

هغه آیتونو ته د معاد آیتونه وایي، چې د انسان د ښو یا بدو کړنو په باب خبرې کوي او د آخرت ورځې د سزا او بدلې په باب وزلې اوڅاروي او هغوی ته زېری ورکوي، چې ښې چارې

کوي او څوک چې بد کارونه کوي، د دوزخ وړاندوینه ورته کوي.

**پېغمبرانو به تل د قیامت په باب خبرې کولې:**

ټولو رسولانو او پېغمبرانو، خلکو ته د قیامت ورځ وریادوله او خلکو ته یې ویل، چې د قیامت پر ورځ به ټول خلک د خپلو کړنو د سزا او بدلې لپاره راژوندي شي؛ یعنې پېغمبرانو چې هره خبره کوله؛ نو په پای کې یې هرومرو د قیامت یادونه هم کوله.

معاد د توحید او د دین د نورو آرونو پایله ده او هله به پر توحید او نورو آرونو گروهه، پایله ولري، چې څوک د قیامت پر ورځې ایمان ولري.

**د معاد آیتونه:**

۱ ـ په هېڅ ځای کې له مرگه خلاصون نشته:

((هر چېرې چې یاست، مرگ به درشي؛ که په برج کې ناست یاست او که په کلکو کلاگانو کې مېشت یاست))

*د آیت په باب توضیح:

د مرگ له کلمې سره ټول اشنا دي او ترې وېرېږي؛ مرگ هغه درد دی، چې درمل نه لري. مرگ په ټولو پسې ورتلونکی دی. مرگ هغه واقعیت دی، چې تېښته ترې نشته. مرگ ښو خلکو ته

خوږ وي؛ خو بدو ته تريخ وي. انسان په دوو بڼو مړ کېداى شي: طبيعي او غير طبيعي .

(((چې کله د انسان مرگ راورسي؛ نو الله تعالى يې مړينه نه ځنډوي او هرومرو مري))

*** خلک له قبرونو راپاڅي:**

((يَوْمَ يَسْمَعُونَ الصَّيْحَةَ بِالْحَقِّ ذَلِكَ يَوْمُ الْخُرُوجِ[١]= (هغه) ورځ، چې ټول به د(ستر قيامت) چغه سمه واوري، دا (له قبرونو د مړيو) د راوتو ورځ ده.))

*** د قيامت ورځې زلزله ويرونکې ده:**

((يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ. يَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّا أَرْضَعَتْ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى النَّاسَ سُكَارَى وَمَا هُم بِسُكَارَى وَلَكِنَّ عَذَابَ اللَّهِ شَدِيدٌ[٢]= خلکو! د خپل پالونکي (له عذابه) ځان وساتئ؛

---

[١] (ق/٤٢)

[٢] (حج/١-٢)

[ځکه] چې د قیامت زلزله ستره پېښه ده. پر هغه ورځ چې ورسره مخ شئ (نو له وېرې به حال داسې وي، چې) هره "تی ورکوونکې مور" به خپل تیخور ماشوم هېر کړي او هره دوه ځانې به [بېواکه] خپل جنین وغورځوي او خلك به بېسده وینې او حال دا، دوی به نشه نه وي؛ خو د الله تعالی عذاب سخت او دروند دی! ))

*** د آیت په باب توضیح:**

زلزله د الهي ځواک ښکارندوی ده، چې یو دم راځي او له انسانه ژغورنلار ورکوي او هغه هم هغه زلزله، چې ټوله نړۍ رنگوي د "لئالي الاخبار" د کتاب په ٤٥٤ مخ کې راغلي: د خلکو حرکت به په تعادل کې نه وي او یو له بل سره به ټکرېږي؛ ته وا مست دي؛ خو مست به نه وي ؛ بلکې وېرې، لار ترې ورکه کړې او همدا وېره ده، چې د ځوانانو تور وېښتان به سپین کړي او هغوی به بې وخته زاړه کړي؛ خو مؤمنان د قیامت پر ورځ خوشحاله وي.

((لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ.وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ مُّسْفِرَةٌ. ضَاحِكَةٌ مُّسْتَبْشِرَةٌ[1]= پر هغه ورځ به ترې هر تن په داسې کار (او حال) اخته وي، چې يوازې ځان ته به يې پام وي! پر هغه ورځ به ځينې مخونه ځليږي، خندان او خوښ به وي.))

---

[1] (عبس/۳۸-۳۹)

## دوه ویشتمه زدکړه:

# په قرآن حکیم کې اندنه

قرآن حکیم د ژوند او تکامل کتاب دی او انسان ته د همېشنۍ نېکمرغۍ پر لوري لارښونه کوي، د الهي آیتونو د نزول فلسفه هم نېکمرغۍ ته رسېدل دي.
قرآن حکیم په ټولو اړخونو او د ژوند ټولو پړاوونو ته لارښوونې لري او که وکارول شي؛ نو انسان به نېکمرغه وي. که څه، د قرآن حکیم تلاوت ثواب لري؛ خو د اسلام آریزه موخه، یوازې تلاوت نه دی.

**قرآن حکیم د اندنې کتاب دی**

انسان ته نه ښایي ځان راضي کړي، چې قرآن حکیم مې له تجوید سره ویل، زده دی؛ بلکې باید د قرآن حکیم په آیتونو کې اندنه وکړي او احکام ترې راوباسي او په ژوند کې یې وکاروي.
قرآن حکیم هم په ګڼ شمېر آیتونو کې مسلمانان اندنې ته رابللي؛ لکه:

((كَذَلِكَ نُفَصِّلُ الآيَاتِ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ[1]= په دې توګه موږ هغوی ته خپل آيتونه شرحوو، چې (په مثال کې) فکر کوي (او عبرت ترې اخلي)))

**ولې په قرآن حکيم کې تعقل نه کوئ؟!**

((أَفَلاَ يَتَدَبَّرُونَ الْقرآن حکيم أَمْ عَلَى قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا[2]=نو ايا په قرآن حکيم کې غور او تدبر نه کوي يا زړونو ته (يې د غفلت) کولپونه اچول شوي.))

## د قرآنپوهنې اړتيا او پر دستوراتو يې عمل کول

قرآن حکيم د ژوند کتاب او د ټولو معارفو سرچينه ده. له يو زر او څلور سوو کلونو را پدېخوا يې د حجاز فصيح عرب، ګوته پر خوله کړي او ډېر پوهان يې د تفکر او اندنې په سمندر کې ډوب کړي دي.

---

[1] (يونس/٢٤)

[2] (محمد/٢٤)

سره له دې چې سلګونه تفسیرونه ورباندې لیکل شوي؛ خو بیا هم هماغسې نوی او تازه دی او نن بیا هم هماغسې ګوته په خوله کوونکی او له خوالو ډک دی.

هو! په رښتیا، قرآن حکیم د الله تعالی کلام دی او هغوی چې ددې کتاب درناوی کوي، په دې خبره دې پوه وي؛ لکه څنګه چې د دې سپېڅلي کتاب ظاهر ته درناوی کوي، ددې کتاب مانا او ښوونو ته دې هم درناوی وکړي او ددې کتاب په لاروۍ، رښتینی مسلمان شي.

مګر داسې نه ده، چې د اسلام تذکیره قرآن حکیم دی او هېڅ مسلمان، بې له دې چې پردې کتاب ځان پوه کړي او اندنه پکې وکړي، نشي کولای د خپلو غوښتنو بېلابېلو اړخونو ته ځواب ورکړي.

له پوهې سره لاروي، د اسلامي مترقي ټولنې، د بنسټ ډبره ده او څورمره چې قرآن حکیم ژور او علمي مطالعه کړو، هومره به یې دستوراتو ته د عمل د جامو په اغوستو کې بریالي یو؛ خو ډېر افسوس چې ډېرې اسلامي ټولنې، له قرآن حکیمه رغی او برسېرن درک او پوهه لري او د قرآن حکیم حقیقت ته بېخي پام نه کوي او فکر کوي، د قرآن حکیم درناوی، یوازې پر غوړ چاپ او په ښکلیو ټوکرانو کې یې تاوول دي؛ خو خبر نه دي،

چې د همدې قرآن حکیم آریز مفاهیم او حقیقت، پېړۍ پېړۍ دي، چې په دوړو کې هېر شوي.

پوښتنه مې داده، چې ایا قرآن حکیم یوازې یو ښکلی لرغونی اثر دی؟ ایا د قرآن حکیم درناوی په دې کې دی، چې رو او په احتیاط یې خلاص کړو، پلتۍ ورته ووهو، تر تلاوت روسته یې ښکل کړو، په مخ او سر یې راکاږو؛ خو پر دستوراتو یې عمل و نه کړو؟!

ایا د قرآن حکیم درناوی په دې کې دی، چې یوازې په مړي پسې وویل شي، د ماشوم سر ته د پیریانو له وېرې کېښوول شي، سفر ته د وتو پرمهال لاندې ترې تېر شو، ماشومان له یوه کوره، بل کور ته د وړو پرمهال یې پر ټټر ورته کېږدو او د حق او ناحقو معاملو پرمهال، خپل چټل لاس پرې کېږدو او قسم پرې وخورو؟

د قرآن حکیم له یوه پوټي حقیقته خبر و نه وسو، پر دستوراتو یې عمل و نه کړو او زړه مو خوشحاله وي، چې قرآن حکیم مو په اوو ټوټو کې تاو کړی او خیال کوو، د قرآن حکیم درناوی مو کړی دی.

هغه چې سهار له کوره د وتو پرمهال، قرآن حکیم ښکلوي؛ خو په بازار یا د خپل کار پرمهال، ډول ډول فسادونه کوي، د خلکو

مالونه خوري؛ نو ایا ستاسې په اند، دې پر ظاهره سپېڅلي انسان، د قرآن حکیم درناوی کړی دی؟

ایا هغه مسافر، چې له کوره د راوتو پرمهال، تر قرآن حکیم لاندې راتېر شوی او په مسافرت کې ډول ډول ګناهونه کوي، د قرآن حکیم حرمت یې ساتلی دی؟

ایا ښځې او مېړه، چې د نکاح پرمهال یې مخې ته قرآن حکیم ورته ایښی دی؛ خو په خپل ژوند کې لمونځ، روژه، حجاب او خپل اولاد، د قرآن حکیم د ښوونو له مخې و نه روزي؛ نو ایا د قرآن حکیم حرمت او درناوی یې کړی دی؟

ای هی!! ډېر افسوس، چې دا ټولې چارې سرسري او ظاهري دي ، چې د قرآن حکیم د یون نوم پرې اېښوول کېږي او دا ټول څیزونه، په خپلو سترګو وینئ، چې په ژوند کې یې د غنم د دانې هومره اغېز هم نه لري، په ډېرې خواشینۍ دا خبره کوم، چې له کله نه، چې په قرآن حکیم کې ظواهر او تشریفات، د اندنې او تدبر ځایناسي شوي، زموږ د مسلمانانو له ژونده هم خوشحالي او نېکمرغي الوتې ده.

البته هېڅ عاقل مسلمان دا نه وایي، چې قرآن حکیم دې ښه او غوړ چاپ نشي او ظاهري درناوی دې یې ونشي؛ خو غم دا دی، چې موږ مسلمانانو په همدې ظاهري درناوي او غوړ چاپ بسیا کړې ده.

نن د یوه ربنتین او یوه مسلمان تر ټولو مهمه دنده داده، چې په قرآن حکیم کې په پوهې، عالمانه اندنه او تدبر وکړي او قرآني موخو ته د جامو اغوستو لپاره، نوې او د نن له غوښتنو سره سمې، لارې چارې پیدا کړو او که داسې مو و نه کړل؛ نو له قرآن حکیمه همدا بې توجهي به له موږ نه الله تعالی ته د رسول الله د شکایت او ګیلې لامل وي.

### څلرویشتمه زدکړه:

## توحید؛ د قرآن حکیم آریزه ویینه ده

توحید د قرآن حکیم بنسټیزه ویینه ده. توحید؛ یعنې پر ایکي یو الله گروهه درلودل، چې ټول کاینات یې پنځولی او د غه کاینات یې د ځواک، پوهې، لیدانې او واکمنۍ یو ښکارندوی دی او الله هغه ایکي یو ذات دی، چې گرسره کمالات لري.

توحید د دین له آرونو لومړی او مهم آر دی. پر توحید له گروهې پرته، د دین نور آرونه نه پلي کیږي.

پېغمبر اکرم صلی الله علیه وآله وسلم هم د رسالت په ابلاغ کې، لومړی، خلکو ته د توحید په باب ښوونې کولې، په دې لار کې یې زیات زحمتونه گاللي او پېغمبر اکرم صلی الله علیه وآله وسلم او پتمنو یارانو یې د توحید د پلي کېدو لپاره، ۲۳ کاله ډول ډول زحمتونه پر ځان منلي وو.

حضرت بلال حبشي (رض) تر سختو دباوونو او درنو ډبرو لاندې د مرگ تر خولې ولاړ؛ خو صبر یې کاوه او سره له دې ټولو سختیو یې ویل: احد، احد، احد؛ یعنې زما څښتن ایکی یو الله تعالی دی او بې له هغه بل معبود نشته. د بوتانو له عبادته

کرکجن و، پر توحید له ایمان پرته، د چا ایمان نه سمیږي، پر الله تعالی ایمان، انسان ته رسالت، ژمنه او پازوالي وربښي.

د قرآن حکیم آریزه وینه هم د الله تعالی پېژندنې وینه ده او پکار ده، د هېواد ځوانان هم پر الله تعالی پېژندنې لاس پورې کړې او له دې لارې، د خپل ایمان بنسټ پیاوړی کړي.

## د رسول اکرم لومړی شعار

تر وحې روسته د پېغمبر اکرم لومړی شعار دا و: "قولو لا اله الا الله تفلحو=ووایئ بې له الله تعالی بل معبود نشته، چې بریالي شئ."

*** لا اله الا الله" د بوتانو د عبادت نفې ده:**

د الله تعالی استازي صلی الله علیه وآله وسلم، د توحید د اشعار په اوښارولو، خلک د بې شعوره بې ارادې بوتانو له عبادته منع کړل او خلک یې د الله تعالی عبادت ته چې له هر ډول عیبه پاک دي، راوبلل.

قرآن حکیم هم خلک الله تعالی پېژندنې او د الله تعالی عبادت ته رابللي او خلک یې د دروغجنو خدایانو له عبادته منع کړي او دا خبره یې تل کړې، چې که بې له الله تعالی مو د هر چا عبادت وکړ؛ نو بې لارې به شئ او په خپل لاس به مو ځان ته د تباهۍ کنده ایستلې وي.

لاندې آیت نه څیر شئ:

((لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلَّا اللَّهُ لَفَسَدَتَا فَسُبْحَانَ اللَّهِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُونَ[1] = كه په اسمان او ځمكه كې بې له " الله " نور خدايان هم واى؛ نو هرومرو به "( د اسمان او ځمكې) دواړو (نظام) ويجاړ شوى واى؛ نو الله؛ د عرش پالونكى، له هغه څه پاك دى، چې مشركان يې وايي!))

*** اسماء حسنى يوازې د الله تعالى لپاره دي:**

متعال الله خورا كمالات لري، چې قرآن حكيم ددې كمالاتو او صفاتو جمعې ته اسماء الحسنى وايي:

((اللَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ لَهُ الأَسْمَاء الْحُسْنَى[2] = الله؛ هغه دى، چې بې له هغه بل لمانځوړ نشته (او) ښكلي نومونه په هغه پورې ځانګړي دي.))

هغه ذات دى، چې ژوندى، پوه، ليدونكى، اورېدونكى، ځواكمن او مړه خوا ځښتن دى؛ د ټولو نېكيو سرچينه، الله تعالى دى او كه الله تعالى نيمګړتيا درلوده؛ نو اړتيا به يې پيدا كړې وه؛

[1] (انبياء/٢٢)

[2] (طه/٨)

ځکه څوک چې په خپله اړمن وي، د بل اړتیا نشي پوره کولای.
قرآن کریم، الله تعالی له هر ډول عیب او نیمګړتیا پاک ګڼلی دی.
(سبحانه و تعالی عما یشرکون) سبحان الله تعالی له هر ډول شرک او نیمګړتیا پاک دی.

***الله تعالی پېژندنه د بشري فطرت یوه برخه ده:**
له پخوا راهیسې د انسانانو په منځ کې په بېلابېل ډول، د الله تعالی پېژندنې وېینې اوڅار وې. ډېرو خلکو دین درلود او د نړۍ لپاره یې یو خدای تصور او زباداوه، که څه په منځ کې یې د الله تعالی ځینې اختلافات هم ول. له لرغونو اثارو داسې جوتېږي، چې پخوانیو خلکو هم پر دین او الله تعالی پېژندنې ګروهه درلوده؛ ان د امریکا او استرالیا په څېر سترې وچې، چې نوي برسېره شوي، خلک یې دینوال وو او الله تعالی یې پېژنده او پر الله تعالی ګروهه، تل په بشر کې وه.
دا جوتوي، چې الله تعالی پېژندنه فطري چار دی او انسان په خپل فطرت، چې الله تعالی ورکړی، د نړۍ لپاره ایکي یو څښتن په خپل ذهن کې انځوروي.
قرآن حکیم هم دې خبرې ته اشاره کړې ده:

((وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ فَأَنَّى يُؤْفَكُونَ[1] = او که و يې پوښتې: ((چې دوی چا پنځولي؟))؛ نو هرومرو وايي: ((الله))؛ نو (بيا) څنگه د هغه له عبادته اړول کيږي؟!))

*** الله تعالی د ټولو څواکونو ښکارندوی دی:**

د الله تعالی يو صفت او اسماء الحسنی، د پوهې او څواک درلودل دي. د نړۍ منظم يون ته چې انسان ځير شي؛ نو دا ټولې د الله تعالی د څواک په باب خبرې کوي.

الله تعالی پر خپل ناپايه څواک او پوهه، ډول ډول ژوي پنځولي او هر يو يې وروزه او هغوی يې د کمال پر لوري روان کړل.

الله تعالی دی، چې هستي يې تلپاتې او هميشنۍ ده او پر هر څيز پوه او لاسبر دی.

الله تعالی په قرآن حکيم کې وايي:

[1] (زخرف/۸۷)

((لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ[1]= د اسمانونو او ځمکې واکمني يوازې د هماغه ده، ژوندي كول او مړه كول كوي او هغه پر هر څه قادر دی.))

*د الله تعالی چې خوښه شي؛ نو پېښوي يې:

الله تعالی پېژندنه، د الله تعالی ځواک او اراده، د قرآن حکیم له تودو وييئو ځنې ده او هغه پردې مانا:

الله تعالی چې د هر څه اراده وکړي؛ نو بې ځنډه يې بې له کومې وزلې او زحمته پېښوي؛ یعنې یوازې "کن" او "فيکون" وايي؛ یعنې همداچې الله تعالی د څه اراده وکړي، پېښېږي او که وغواړي نه دې وي؛ نو نه به وي، په دې باب اړوند آيت ته پام وکړئ:

... والله ملک السموت الارض.... او الله تعالی پر هر څه لاسبر او ستاسې د ټولو ورستنېدل، د هغه پر لوري دي.

[1] (حدید/۲)

***یوازې الله تعالی مطلق مړه خوا دی:**

((وَرَبُّكَ الْغَنِيُّ ذُو الرَّحْمَةِ إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ وَيَسْتَخْلِفْ مِن بَعْدِكُم مَّا يَشَاء كَمَآ أَنشَأَكُم مِّن ذُرِّيَّةِ قَوْمٍ آخَرِينَ[1]= او ستا پالونکی مړه خوا او د رحمت څښتن دی (پر چا ظلم نه کوي؛ بلکې ټول د خپلو کړنو پايلېويني) که وغواړي؛ تاسې (له منځه) وړي او پرځای به مو د خپلې خوښې خلک راولي؛ لکه چې تاسې يې د نورو قومونو له څوځاته پنځولي یاست.))

***د الله تعالی رحمت هر څېزې خور دی:**

ټوله نړۍ په الهي نعمتونو کې ډوبه ده، که څوک وغواړي، د الله تعالی نعمتونه وشمېري؛ نو دا کار به و نه کړای شي؛ ځکه نعمتونه يې له شمېره وتلي دي.

[1] (انعام/۱۳۳)

## قرآن حکیم او عبودیت ته رابلنه

((يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُواْ رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ[1]=خلکو! خپل هغه پالونکی ولمانځئ، چې تاسې او تر تاسې مخکېني يي پنځولي، ښايي متقيان شئ.))

*** په پنځون کې اندنه:**

((إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلاَفِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لآيَاتٍ لِّأُوْلِي الألْبَابِ. الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللّهَ قِيَامًا وَقُعُوداً وَعَلَىَ جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَذا بَاطِلاً سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ[2]= په رښتيا، د اسمانو او ځمکې په پنځون او په يو بل پسې د شپې و ورځې په تلو راتلو کې عقلمنو ته ( څرګندې) نښې دي. هغوی چې په ناسته، ولاړه او پر څنګ ډډه وهلي، الله يادوي او د اسمانو او ځمکې په پنځون کې اندنه کوي (او وايي:) پالونکيه! دا دې عبث او (او بې موخې) نه

[1] (بقره/٢١)

[2] (آل عمران /١٩٠-١٩١)

دي پنځولي، ته (له دې) پاك يې (چې چټي كار وكړې)؛ نو موږ د اور له عذابه و ساته!))

*** د بندگۍاو عبوديت كچه:**

امام حسن عسكري وايي: د بندگۍ كچه، ډېر لمونځونه او روژې نيول نه؛ بلكې د الله تعالى په مخلوقاتو كې اندنه ده.

**پینځویشتمه زدکړه:**

## د قرآن حکیم د تفسیر کړنلار

که څه پر هر مسلمان د قرآن حکیم له تفسیر سره اشنایي فرض نه ده؛ خو په دې باب، څه نا څه پوهه ورته په کار ده.
هر مسلمان سره له دې، چې باید د قرآن حکیم له تجوید سره اشنایي ولري، ترڅنګ یې باید د خپل علم هومره، پر قرآن حکیم پوه شي او د قرآن حکیم له انسانسازه مفاهیمو، د خپل ژوند په بېلابېلو برخو کې ګټه وکړي.
د قرآن حکیم تفسیر هم د قرآن مجید په څېر یو پراخ او ستر سمندر دی، چې هر څوک باید، د خپلې پوهېدنې او وړتیا هومره ګټه ترې وکړي او د قرآن حکیم د تفسیر له فنونو او اوزارو سره اشنایي ولري.
د یادونې وړ ده، چې د تفسیر له اوزارو سره له اشنایۍ پرته، څوک له تفسیره ګټه نشي اخستی.

# د تفسیر اوزار

په دې کتاب کې مو تر خپلې وسې هڅه کړې، د تفسیر مهم او چارساز اوزار، په ساده ژبه، ځوان کهول ته ووایو او باید وویل شي، ددې کتاب په سلو کې ۹۵ زدکړو کې، د قرآن حکیم د تفسیر فنون، علوم او اوزار راغلی دي.

د یادونې لپاره مو هغه څه چې د قرآن حکیم په تفسیر کې په کار راځي راوړي دي.

۱ _ له عربي ژبې سره آشنایي.

۲ _ د آیاتو د نزول له شأن سره اشنایي.

۳ _ محکم آیتونه.

٤ _ متشابه آیتونه.

۵ _ وحې.

٦ _ د وحې د نزول شرایط.

۷ _ تنزیل.

۸ _ تأویل.

۹ _ د آیتونو ظاهر و باطن.

۱۰ _ ناسخ و منسوخ.

۱۱ _ د قرآن حکیم له موضوعاتو سره آشنایي.

۱۲ _ مکي او مدني سورتونه.

۱۳ _ د قرآن حکیم تاریخ او راټولولو پړاوونه.

## د تفسیر مفهوم

تفسیر ته یې زیاتې ماناوې نقل کړي ، چې موږ د "زرکشي" نظر بشپړ وموند.

زرکشي ګروهن دی: تقسیر هغه علم دی، چې د الله تعالی د کلمو پر مانا پرې ځان پوهولای شو، احکام یې پېژنو او د الهي دستوراتو د صدور پر فلسفه پوهېدای شو.

هغه مهال چې وحې راتله؛ نو حضرت محمد صلی الله علیه وآله وسلم خلکو ته رسوله، خلکو آیتونه حفظول او عملي کول؛ نو حضرت محمد صلی الله علیه وآله وسلم په خپله، قرآن حکیم، خلکو ته تفسیراوه او تر هغه روسته، حضرت علي او تر هغه روسته حضرت ابن عباس او نور اصحابو خلکو ته قرآن حکیم تفسیراوه او د وخت په تېرېدو، د قرآن حکیم د تفسیر چار، علماوو او څېړونکیو کاوه او دا چار تر نن پورې غځېدلی دی، چې پایله یې د قرآن حکیم د تفسیر په سلګونو کتابونه دي.

شوني ده ذهن ته پوښتنه راشي: سره له دې، چې د قرآن حکیم په باب په سلګونو تفسیرونه لیکل شوي؛ نو نورو تفسیرونو لیکلو ته څه اړتیا ده؟

باید وویل شي: لکه څنګه چې موږ هره ورځ خوړو او تنفس ته اړتیا لرو او نه شو ویلای: دا چې پرون مو خواړه خوړلي او تنفس مو کړی، نن اړتیا ورته نه لرو او لکه څنګه چې انسان تل او هره ورځ خوړو او تنفس ته اړتیا لري، هومره د قرآن حکیم تفسیر ته هم اړتیا لري او هرکال او هره ورځ باید د قرآن حکیم د تفسیر په باب مطلوب، په زړه پورې او هراړخیز کتابونه ولیکل او چاپ شي؛ ځکه قرآن حکیم د ټولو پېړونو لپاره راغلی او هر پېر باید له قرآنه پوهېدنه او تفسیر ولري.

قرآن حکیم د ژوند کتاب دی او ټولو ته باید په هر ځای کې اوڅار شي او دا اړینه ده، چې قرآن حکیم هم باید د وختونو له بدلونو سره سوب وي؛ نوځکه د قرآن حکیم د تفسیر او پوهې کار، د تل لپاره په کار دی.

## څوک قرآن حکیم تفسیرولای شي

د قرآن حکیم پوهه او تفسیر په هېچا یا ځانګړې ډلې پورې ځانګړې نه ده او ټول انسانان، د قرآن حکیم د تفسیر لپاره لېچې

رانغاړلای شي، چې د قرآن حکیم له ګټورو مفاهیمو، د خپل ژوند لپاره ګټه واخلي او هغه پوهه یې چې ترلاسه کړې، نورو ته هم ورکړي.

په تېرو زدکړو کې مو وویل: هر انسان د خپلې وسې او پوهې هومره، له قرآن حکیمه ګټه اخلي. په هر علمي او ټولنیز چار کې، له قرآن حکیمه ګټه اخستی شو او تر ټولو مهمه خبره خو داده، چې باید د قرآن حکیم په تفسیر کې د تفسیر پر اوزارو سربېره، خلوص هم ولرو، د الله تعالی خوښي مو په پام کې وي او وګړیزې غوښتنې شاته واچاوو.

ایمان ولرو، کوم کار چې د الله تعالی د خوښۍ لپاره وي، الله تعالی به په خپله مرسته راسره وکړي.

## د تفسیر ډولونه

قرآن حکیم په لاندې ډولونو تفسیرېدای شي:

۱ _ آیت په آیت تفسیر؛ یعنې په یوه آیت، د بل آیت تفسیرول.

۲ _ تفسیر ماثور؛ دې ډول تفسیر ته روایي تفسیر هم وایي او په دې ډول تفسیر کې، د قرآن حکیم آیتونه، د روایتونو په رڼا کې تفسیرېږي، چې ډېری پخوانیو مفسرینو، په همدې کړنلار، قرآن حکیم تفسیراوه او هغوی چې په دې کړنلار، قرآن حکیم

تفسیراوه، د هر آیت لپاره به یې چې روایت و نه موند، هغه آیت یې پرځای پرېښود؛ نو داچې د قرآن حکیم آیتونه ډېر دي او د ټولو په باب روایتونه زموږ په کتابونو کې نشته؛ نو ویل کېږي، چې د تفسیر دا ډول کړنلار، بشپړه او هراړخیزه نه ده.

## غوره تفسیر

د دین د ډېر علماوو او د قرآني علومو د څېړونکیو د وینا له مخې، تر ټولو بشپړ تفسیر، آیت په آیت تفسیر دی، چې په خپله قرآن حکیم هم ددې خبرې گواه دی (یفسر بعضه بعضا)؛ یعنې ځینې آیتونه ځینې نور تفسیروي او پردې سربېره، په دې ډول تفسیرولو کې، له روایتونو هم گټه اخستل کېږي.

## په خپله رایه تفسیر

هغه تفسیر، چې پکې ځاني غوښتنې، وگړیزې سلیقې، توکیزې او سیاسي گټې په پام کې نیول شوي وي، چې دا یو ډول خطرناک تفسیر دی او خلک د قرآن حکیم له آریز بهیره کږوي.

شپږویشتمه زدکړه:

## تفسیرونه

*** د اهل سنتو مشهور تفسیرونه:**

١ _ **طبري تفسیر:** ددې تفسیر نوم (جامع البیان فی التفسیر القرآن) دی. مؤلف یې ابوجعفر محمدبن جریر طبري دی. پر کال ٢٢٤ (ه ق) زیږېدلی او پر کال ٣١٠ (ه ق) مړ شوی دی.

٢ _ **کشاف تفسیر:** ددې تفسیر نوم ( الکشاف عن حقایق التنزیل و عیون الاتأویل فی وجوه التأویل) دی. مؤلف یې ابوالقاسم محمود بن محمد پر "جارالله" مقلب دی او پر کال ٤٤٦ (ه ق) زیږېدلی دی.

٣ _ **فخر رازي تفسیر:** ددې تفسیر نامه (مفاتیح الغیب) دی. مؤلف یې ابوعبدالله محمد بن عمر بن حسین طبرستاني دی، لقب یې فخر رازي دی او پر ابن خطیب شافعي مشهور دی، پر ٥٤٤ زیږېدلی دی.

٤ _ **بیضاوي تفسیر:** ددې تفسیر نامه ( انوار التنزیل و اسرار التأویل) دی. مؤلف یې ناصرالدین عبدالله بن عمر بیضاوي دی، چې پر کال ٦٨٥ (ه ق) مړ شوی دی.

**٥ ـ جلال الدین تفسیر:** مؤلف يې جلال الدين محمدبن احمد محلي دی، پر کال ٨٦٤ مړ شوی او ددې تفسیر کار چې يې نيمايي ته ورساوه، اجل يې راورسېد او تر هغه روسته يې زدکړیال؛ جلال الدين سيوطي، دا تفسير پای ته ورساوه؛ نوځکه ورته د جلال الدين تفسير وايي، چې دوو جلال الدينو کار پرې کړی دی.

**٦ ـ الدرالمنثور تفسیر:** ددې کتاب نامه، الدالمنثور فی التفسير الماتور دی. ليکوال يې جلال الدين سيوطي دی، چې د يوې وينا له مخې، پر کال ٨٤٩ مړ شوی دی.

**٧ ـ آلوسي تفسیر:** ددې کتاب نامه (روح المعانی فی تفسیر القرآن العظيم والسبع المثانی) دی. مؤلف يې ابوالثناء شهاب الدين سيد محمود اخندی الوسي دی. الوسي د شام او بغداد په منځ کې د يوه کلي نوم دی. الوسي پر کال ١٧٠ (ه ق) مړ شوی دی.

**٨ ـ المنار تفسیر:** دا تفسير، د شیخ محمد عبده د الازهر پوهنتون د رئيس يناوې دي، چې زدکړیال يې سيد محمد رشيد د المنار مجلې مدير راټولې کړي او تر چاپ مخکې، شیخ محمد عبده تر کتنې تېرې کړې دي.

۹ _ **ملظاوي تفسير:** ددې تفسير نامه (الجواهر فی تفسير القرآن) دی. مؤلف يې شيخ جوهر طنطاوي دی، چې پر انګليسي هم پوهېده.

۱۰ _ **تفسير فی ظلال القرآن:** ددې کتاب مؤلف، سيد قطب دی، چې کتاب يې پر تفسير ظلال مشهور دی.

**د اهل تشیع تفسیرونه**

۱ _ **عیاشي تفسیر:** مؤلف یې محمد بن مسعود عیاشي سمرقندي دی، چې پر عیاشي مشهور دی. دا تفسیر د اهل بیتو د روایتونو په رڼا کې لیکل شوی دی.

۲ _ **قمي تفسیر:** ددې تفسیر لیکوال، ابوالحسن بن ابراهیم بن هاشم بن قمي دی، چې د شیعه مذهب له فقیهانو څنې و. دا تفسیر د روایتونو په رڼا کې لیکل شوی دی.

۳ _ **تبیان تفسیر:** ددې کتاب مؤلف، ابوجعفر محمد بن حسن طوسي دی. لقب یې شیخ الطایفه دی، پر کال ۳۸۵ (ه ق) زیږېدلی، پر کال ٤٦۰ کال مړ شوی او هغه په ۷۵ کلنۍ کې، د نجف ښار د شیعیانو علمي مرکز وګرځاوه. "تهذیب" او " استبصار" یې نور تالیفات دي.

٤ _ **مجمع البیان:** ددې تفسیر نوم ( مجمع البیان العلوم القرآن ) دی. مؤلف یې ابوعلي فضل ابن حسن طبري دی، چې پر کال ۵۲۳ په سبزوار کې مېشت و او پر کال ۵٤۸ ( ه ق) مړ شوی دی.

۵ _ **منهج الصادقین:** ددې تفسیر نامه «منهج الصادقین فی الزام المخالفین» دی او مؤلف یې ملافتح الله ابن ملا شکرالله ابن لطف الله کاستاني دی او پر کال ۹۸۸ (ه ق) کال مړ شوی دی.

**٦ _ صافي تفسير:** یو عرفاني تفسیر دی، چې د کتاب نامه یې (الصافی فی تفسیر القرآن الکریم) دی. مؤلف یې محمد بن مرتضی دی، چې پر ملا محسن فیض کاشاني هم مشهور و. هغه په دې تفسیر کې د امامانو پر روایتونو اډانه کړې ده.

**٧ _ برهان تفسیر:** ددې تفسیر نامه (البرهان فی تفسیر القرآن) دی. مؤلف یې سید هاشم بن سید بحراني دی، پر کال ١١٠٧ (ه ق) وفات شوی. دا تفسیر ٤ ټوکه دی.

**٨ _ المیزان تفسیر:** ددې تفسر نامه (المیزان فی تفسیر القرآن) دی، مؤلف یې علامه سید محمد حسین طباطبایي تبریزي دی. دا تفسیر ٢٠ ټوکه لري، چې روستی یې د علامه تر مرگ ١٠ کاله مخکې لیکل شوی.

**٩ _ نمونه تفسیر:** دا تفسیر د حوزه علمیه قم استادانو، د آیت الله ناصر مکارم شیرازي تر کتنې لاندې لیکلی دی.

**١٠ _ احسن الحدیث تفسیر:** ددې کتاب لیکوال، سید علي قریشي دی.

**١١-تفسیر نور:** ددې تفسیر لیکوال، شیخ محسن قرآیتي دی، دولس ټوکونه لري او دغه تفسیر، استاد اجرالدین اقبال په پښتو هم ژباړلی دی.

پای